



Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د محترم استاد او پیاوړي لیکوال ښاغلي نثاراحمد صمد واصفي صاحب د زريني کرښي تر عنوان لاندي چي په مختلیفو او اړین موضعاتو رڼا اچولي ده اکثره ویناوي مي سره را غونډي او تر تیب وروسته چي په (پی ډی ایف) سیسټم تاسو ګرامي دوستانو ته چمتو کړي دي هیله مندیم چي زما درانه ملګري او دوستان د نوموړي د ویناوو څخه ځان برخمن کړي.

ګرانه مشره ( واصفي صاحب ) زه دي د یو شاګرد په حیث ستاسو استعداد، قلم او لیکوالۍ ته سلام کوم او ستاسو ذهني، فکري او علمي لیکني په غور سره لولم او غنیمت بولم او تر ډیره حده چي زه پوهیږم زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شان زيات شمير ملګري ستاسو د ليکنو تږي دي**
**درند استاده قلم دې همداسې روان و اوسه چي ګران لوستونکي دي پر ليکنو تنده ماته کړي پر ژوند دې برکت شه**
**ستاسو خادم زاهد عزيز**
=========================================================

## ( ۱ ) بې ارزښته افتخار

**تر ټولو غلط او ناوړه افتخار هغه وی چی يو څوک په داسی شي فخر وکړی چی دَه يې په لرلو کی هيڅ رول نه وی ادا کړی لکه څيره ، قد ، رنګ ، سترګی ، قوم ، نژاد ، ميراثي شتمني او ډير نور شيان**

**نو که ميره يې په هغو شيانو فخر وکړه چی تا پخپله ګټلي وی لکه تقوا ، انسانيت ، علم ، اخلاق ، دينداري ، مهرباني ، شفقت ، زړه سوئ ، صداقت ، معافول او ډير نور ارزښتونه**

**بس يوه پاکه اراده او فيصله غواړي.**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۲ ) خبرداریٔ او پوهاویٔ

**آيا شيطان کومه زنا کړې وه ؟ شراب يې څښلي وو ؟ قمار يې کړی و ؟ څوک يې وژلی وو ؟ شِرک يې کړی و ؟ نو څه ګناه يې کړې وه چی الله جل جلاله د تل له پاره لعنت پر ووايه ؟ ځواب دا چی صرف د يوې سجدې څخه يې انکار وکړ ، هو صرف د يوې سجدې څخه انکار!**

**خو بې لمانځه انسان هره ورځ د څو سجدو څخه انکار کوی ؟ د ۳۴ فرضي سجدو څخه ـ استغفرالله**

**نو الله تعالی دې موږ ټول هغه څه ته متوجه کړی چی له پاره يې دې دنيا ته راغلي يو ، خو اراده اول په موږ ( اړه لری ( الذاريات ۵۶**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۳ ) خو موږ بيا هم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انسان چی په قبر کی کښېښودل سی څه موده یې نږدې خپلوان ژر ژر ورځي . خو وروسته دا ورتګ لږیږی ، څو چی داسی وخت هم رارسیږی چی شکمن وی چی د ده قبر په دغو کی کوم یو دی**

**هو ، دا یو تریخ حقیقت دی . نو څومره لنډ ژوند لرو . خو موږ بیا هم ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴ )　ژبه مهار کړه**

**ژبه تر سوچ ، غور او فکر کولو مخکی مه خوشي کوه ، بلکی کیزه یې تینګه ونیسه ! که نه ، د زین څخه به دې لاندی راواچوي !**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۵ )　څومره آسانه ده ګناه**

**دا حتمي نه ده چی د یو شي د ماتولو له پاره ډېره راپورته کړې . بلکی لهجه بدله کړه او الفاظ ناوړه کړه . بیا وګوره چی هر څه غواړې هغه به مات سي که زړه دی ، که محبت دی ، که صداقت دی او که انسانیت دی**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶ )　آیا پام مو دی ؟**

**موږ د ځان د اصلاح او سمون له پاره دومره کوښښ نه کوو څومره چی تر ځان د نورو د غلط ثابتولو یا لږ یوه بللو له پاره یې کوو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( ۷ ) نعمت مه ضایع کوه

**سعدي شیرازی څه ښه ویلی دي : دوه کسان هلاک سول : یو هغه چی لرل یې خو ویې نه خوړل ، بل هغه چی پوهیدئ خو ویې نکړل**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸ ) د یو عالم تحلیل

**جوهان ګیت دوه سوه کاله مخکی داسی ویلی دي : موږ به تول ژر یا وروسته حتمأ د اسلام دین قبلوو . همدا حقیقي دین دی . که ما ته څوک مسلمان ووایی زه نه خپه کیږم ، زه دا صحیح خبره منم ( جوهان ګیت ۱۷۴۹ ـ ۱۸۳۲ )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۹ ) وعده خلافه انسان

**نننی انسان د والدینو ، ورونو خویندو ، خپلوانو ، اولادونو ، میره یا میرمنی او ملګرو سره ضرور وعده خلافي کوی**

**آیا پوهیږې چی تر ټولو ډیره وعده خلافي د چا سره کوی ؟**

**د الله تعالی سره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۰ ) درناوئ که سپکاوئ ؟

**محترم وروره او محترمی خور ، دعزت او ذلت فقط یوه دروازه ده چی هغه ژبه ده . نو سمه یې خلاصوه او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تېره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱ )    د ځان بار مه درَنوه**

**د ګناه د خپرېدو باعث مه کېږه . کيداى سى چى ته يې بس کړې مګر هغه کسان چى تا په ګناه اخته کړي دي ، ستا د آخرت د تباهۍ سبب سى**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲ )    د ستر رب ستر احسان**

**د انسان په بدن کى خورا ډېر لوى او کوچني رګونه سته چى آن ځينى په سترګو هم نه ليدل کيږى . همدا علت دى چى که د بدن هر ځاى ته ستن يا اغزى ننباسو نو وينى به وکړي يعنى يو يا څو رګونه به زخمي سى چى وينه ترې راوزي . که دا ټول رګونه سره وصل کړو نو مجموعي اوږدوالى به يې ۷۲۰۰۰ کيلو متره سي**

**بنه ، نن په نړۍ کى قوي ترين واټرپمپ تر اووه زر ( ۷۰۰۰ ) فټه اضافه اوبه نسي را پورته کولى . خو الله تعالى يو کوچني زړه ته دومره قوت ورکړى دى چى د انساني بدن په رګونو کى د دوه اويا زرو کيلومترو په واټن څليرويشت ساعته وينه جاري ساتي او د بدن ذرې ذرې ته يې رسوي . سبحان الله !**

**« !لا د الله تعالى کوم کوم نعمت نه مني ؟ »**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۳ )    ځان له شره خلاصول**

**که هر څومره مقنع دليل او غابن ماتونکى ځواب ولرې بيا هم احمق نسې خاموش کولى او**

**جاهل نسې قانع کولاى**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو سلام ورته وکړه او ترې ځه ( الفرقان( ۶۳ )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۴ )   سیرت او صورت**

**په ماشومتوب کی اکثرأ کالي ، لاسونه ، پښې ، سر او مخ خیرن وي ، خو زړونه پاک وی ؛**

**مګر په لوی والي کی بیا اکثرأ کالي ، لاسونه ، پښې ، سر او مخ پاک وی خو زړونه خیرن وی**

**زما په نظر خو اکثریت همدغسی دي ، والله اعلم**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۵ )   ژوند هسی مه ضایع کوه**

**«! یو عالم ویلی دي : « ژوند لند نه دی بلکی موږ ناوخته پیل کړی دی**

**یعنی ضایع کړی مو دی او اهمیت یې ناوخته رامعلوم سو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۶ )   اخلاقي کنایه**

**یو عارف ویلی دي : غرور وویل چی امکان نلري ؛**

**تجربې وویل چی پام کوه خطرناک دی ؛**

**عقل وویل چی بې ګټی دی ؛**

**خو زړه وویل چی مه ډارېږئ ، امتحان خو یې کړئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

### ( ۱۷ )   الهي اجر او ثواب

**دوې داسی ښیګڼی دي چی په هر څومره ډیر استعمال سره هیڅ نه لږیږی : لومړی علم ، دوهم دعا**

**نو راځی چی دواړه تقسیم او تکثیر کړو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

### ( ۱۸ )   میره ته د میرمنې مشوره

**زه به ستا اطاعت او خدمت کوم تر څو جنت می په نصیب سی ؛ خو ته د خپلی مور اطاعت او خدمت کوه تر څو جنت دې په نصیب سی . په دې ډول به دواړه په جنت کی سره یو ځای یو**

**! سبحان الله ، څومره د کورنیو بدمرغیو د ختمولو علمي او عملي نسخه او د عقبا توښه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

### ( ۱۹ )   ماضي مړه سوې ده

**په ماضی ( یعنی تیره زمانه ) کی ژوند مه کوه بلکی د ماضي له بندي خانې ځان راوباسه . نه ژوند بیرته پر شا ځي ، نه عمر . نو تا ولی ځان د ماضي په قطی کی اچولی دی ؟ د ماضي په ارمان کی نن مه بایله .**

**ماضي مړه سوې ده خو ته ژوندی یې . نو د ژوند حق ادا کړه . ته ډیر مهم یې ځان خبر کړه . که نورو ته څه نسي کولای ، ځان ته ډیر څه کولای سې . نو پاڅه او په نن کی سبا ولټوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

### ( ۲۰ )   قدسي حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایی چی ته هغه څه کوې چی ته یې غواړې مګر کیږی هغه څه چی زه یې غواړم . نو هغه څه وکړه چی زه یې غواړم تر څو هغه څه وسي چی ته یې غواړې

سبحان الله ، څومره رحمت او مرحمت

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۲۱ ) زنګ وهلی ذهن

موږ انسانان یو او ډیری غلطی کوو

تر ټولو غلطه غلطي مو دا ده چی په خپلو غلطیو خبر نه یو

خو تر دې هم خطرناکه غلطي بیا دا ده چی پر خپله غلطي ټینګ ودریږو . دا نو د ذهن زنګ دی

الله تعالی دې دا ډول خلک ( چی خورا ډیر دي ) اصلاح کړی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۲۲ ) څومره بې پروا یو

د غلطۍ د ثابتېدو له امله بخښنه او معافي نه غواړو بلکی روابط او دوستي قطع کوو

استغفرالله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۲۳ ) د یوې سِکې دوه مخه

مرګ صرف یو ځل راځي . نه یې مال مخه راګرځولی سي نه دولت ؛ نه یې وسله مخه راګرځولی سي نه باډې ګاردان ؛ نه یې ډاکټر مخه راګرځولی سي نه دوا ؛ نه یې مقام مخه راګرځولی سي نه قوم ! دا ځکه چی ژوند خو د سِکې یو مخ دی ، بل مخ یې مرګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو همدا اوس راپورته سه او پر کړو ګناهونو دې توبه وباسه او الله تعالی ته پناه یوسه . که هوس دی نور دې بس دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۲۴ ) ودرېږه او وګوره

**عجیبه خلک یو . یو ځل وختونه او فرصتونه له لاسه ورکوو ، بیا وروسته د هغو په تلاښ پسی بیرته وختونه او فرصتونه ضایع کوو . نو ودرېږه او وګوره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۲۵ ) د لمانځه قبولیت

**که د لمانځه په کولو سره ته د ګناهونو او بدو کارونو ښخه راوګرځیدې نو پوه سه چی لمونځونه دې قبلیږی**

**یو صحابي د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) ښخه وپوښتل چی : « موږ ښنګه وپوهیږو چی لمونځ مو قبلیږی ؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل : کله چی بل لمانځه ته ستا زړه وغواړی .» سبحان الله**

**چی موږ به ښنګه یو ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۲۶ ) د نیکمرغی او بېغمی راز

**آیا غواړې چی د نورو له شره ځان وساتي ؟ ډیره آسانه او ارزانه طریقه لری : هغه دا چی نور له خپله شره وساته**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۲۷ )  ایماني ژوند**

**که پر جسم باندی د نفس حکومت وی نو دا حیواني ژوند دی ؛**

**که پر جسم د عقل حکومت وی نو دا انساني ژوند دی ؛**

**خو که پر جسم د قرآن حکومت وی نو دا ایماني ژوند دی**

**په اوس عصر کی خو ایماني ژوند کونکي مطلق اقلیت دي ، الله تعالی دې یې مطلق اکثریت کړی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۲۸ )  د ژوند لنډیز**

**زموږ ژوند د درو مهمو اصلونو لنډیز دی : لومړی خنداوي چی محوه کیږی ؛ دوهم اوښکی چی وچیږی ؛ دریېم عملونه چی پاتیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۲۹ )  فکري خوځښت**

**د نورو د سیاست په وړاندی صداقت غفلت دی ؛ خو د نورو د صداقت په وړاندی سیاست خیانت دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۰ )  د ځان بدلون**

**الله جل جلاله هماغه دی چی زه یې غواړم ، کاشکی زه هم هماغسی وای چی دئ می غواړی**

**بس یوه پاکه اراده او فیصله غواړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۱ )   الهي غبرګون**

**شيخ سعدي (رح) ويلی دي : ما په خپل ژوند کی د ډير تلاښ سره سره دوه کسان پيدا نکړای سول : يو هغه چی د الله په نوم يې صدقه ورکړې وی خو غريب سوی وی ؛ بل هغه چی ظلم يې کړی وی خو د الله له نيولو خلاص سوی وي .**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۲ )   پاک او تلپاته محبت**

**د الله تعالی سره د محبت څخه پرته بل هر محبت درد او غم لری**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۳ )   اصلی مسکين څوک دی ؟**

**پرون يو انسان زما څخه يوه ډوډۍ وغوښته او ورمی کړه . په لسګونو دعاوی يې راته وکړې او روان سو**

**خو اوس حيران يم چی اصلي مسکين هغه و که زه ؟**

**نو موږ بايد يو غريب ته صدقه په دې نيت ورنکړو چی هغه ورته اړ دی ، بلکی په دې نيت يې ورکړو چی موږ د دې صدقې و قبلېدو ته اړ يو !**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۳۴ )   د ژوند لنډه فلسفه**

**مولانا جلال الدین بلخي څه ښه ویلی دي : د مرګ ذایقه هر یو څکي ، خو د ژوند ذایقه یو یو څوک څکي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۵ )   اخلاقي کنایه**

**په یو کارتوني تصویر کی می ولیدل چی یو نفر پر لمانځه ناست دی ، په لاس کی یې موبایل تلیفون لوړ نیولی دی او د ځان سیلفي اخلی . تر لاندی داسی ورته لیکلی وو : پخوا به یې ویل چی نیکي وکړه په دریاب کی یې واچوه ؛ خو نن وایی چی نیکي وکړه په فېسبوک کی یې واچوه !**

**( استغفرالله ، سیلفي تر عبادت پوری هم راورسېده . دا نو د ریا انتها ده ( ښایی وي به دغسی کسان**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۶ )   مادیات پالنه**

**دا دنیا د یو پُل غوندي ده . هیڅ کوم هوښیار انسان پر هغه کور نه جوړوي ، خو موږ لګیا یو د هغه له پاسه جنت جوړوو ( شیخ ذوالفقار احمد مجددي)**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۳۷ )   د سمون اراده**

**پخوانیو به ویل : د جاهلانو سره په ناسته کی غلی اوسه او د عالمانو سره په مجلس کی غوږ ونیسه . ځکه چی د جاهلانو سره په خاموشي کی حلم او د عالمانو سره په خاموشي کی علم زیاتیږي**

**بس یوه ټینګه حوصله او فیصله غواړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۳۸ ) نرمه هڅوَنه

د یو دکان پر دروازه د دې پر ځای چی ولیکی ( دکان بند دی ) ، داسی زړه وړونکي او هڅونکي جمله لیکلې وه : زه لمانځه ته ستا څخه مخکی تللی یم

سبحان الله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۳۹ ) درود او سلام

اې مؤمنه ! دا به څومره بهتره او بختوره شیبه وی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم تا ته په نوم در ږغ کړی . او ته ورڅخه وپوښتې چی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! ستاسی زما نوم څه زده دی ؟

خو نبی کریم علیه السلام درته وفرمایی چی ستا له خوا درود او سلام ما ته ستا د نوم سره یو ځای را رسیدل

سبحان الله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۴۰) د غیبت بدلون

که بې له وجی او بېله دلیله خوشحاله وې یا خوښي احساسوې ، نو پوه سه چی یو څوک تا په ښنو یادوي یا ستا له پاره دعا کوی !

نو راځی چی غیبت همدې ته بدل کړو

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( ۴۱ ) غیبت او درواغ

روایت دی چی امام شافعی (رح) ته یو سړي وویل چی فلانیً ستا بد وایی ، او تا په بدو نومونو یادوي

امام شافعی (رح) ځواب ورکړ: که ته رښتیا وایې نو غیبت دې وکړ ، او که درواغ وایې نو فاسق یې

په دې سره هغه سړی ډیر وشرمېد او روان سو

په رښتیا هم غیبت او درواغ د ټولو ګناهونو د دخول دروازې دي . افغانان ډیرئ په دې ناروغي مبتلا دي . نو الله (ج) دې هر مسلمان د امام شافعي (رح) د دغه علمی او عینی غبرګون جوګه کړی . دا کار نه سرمایه غواړی نه مشقت ، بلکی صرف یو ټینګ عزم او قسم غواړي

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۴۲ ) عجیبه ناپوهي ده

آیا دا ناپوهي نه ده چی خدایی موجوده وی مګر خدای موجود نه وی ؟

تخلیق او مخلوق موجود وی خو خالق موجود نه وی ؟

عشق موجود وی خو معشوق موجود نه وی ؟

شعر موجود وی خو شاعر موجود نه وی ؟

رحمت موجود وی خو رحیم موجود نه وی ؟

حکمت موجود وی خو حکیم موجود نه وی ؟

محبت موجود وی خو محبوب موجود نه وی ؟

لنډه دا چی هر څه موجود وی خو هیڅوک موجود نه وی ؟

نو اې « سرکښانو » او « منکرانو » ، د خدای له پاره ! آیا دا ممکنه ده ؟

پس ناپوهي او سرټمبګي لا توره وی که سپینه ؟

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۴۳ )   د ترازو دوې پلې**

**د هغه علم څخه ځان ساته چې په هغه کی عمل نه وی ؛**

**او د هغه عمل څخه هم ځان ساته چې په هغه کی علم نه وی**

**دواړه حالتونه بې ګټی دي حتی ضرر لری**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۴ )   څومره لنډ ژوند**

**دا انسان هم عجیبه مخلوق دی : په شنبه وزوکیږی ؛ په یکشنبه تګ پیل کړي ؛ په دوشنبه ځوان سي ؛ په سه شنبه واده وکړي ؛ په چهارشنبه ناروغ سي ؛ په پنجشنبه د مرګ پر بستر څملي ؛ په جمعه مړ سي !**

**رښتیا هم اتمه ورځ نلرو ، خو ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۵ )   د غلطی تکرار ګناه ده**

**زموږ یوه فکري ښوېدنه دا هم ده چی بد کار بد نه راته ښکاری بلکی عادي یې بولو . داسی چی ځینی کسان اړونده بد کار د ده عادت بولي ، ځینی یې بیا د ده سلیقه بولی او ځینی خو یې بیا د ده شخصی او ځاني معامله بولی او وایی چی ستا یې په څه ؟!**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۶ )   حقیقت مګر ناخوښه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**! بیده او غافل خلک یوازی د نیکونو په کارنامو ویاړي ، خو ویښ او فعال خلک لمسیانو ته ویاړونه پریږدي نو چی موږ به له کومی ډلی څخه یو ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۷ ) له ناکامی ډډه**

**تر څو چی د ماضي څخه لاس وانخلي ، راتلونکي ته دې لاس رسي نسته**

**کله چی دې وخت له لاسه ورکړ ، د هغه څخه عبرت ، درس او تجربه خو نو له لاسه مه ورکوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۸ ) اې ظالمه ، د خدای له پاره**

**ته چی ظلم کوې ، دا چی زور لرې نو کوه یې . ته چی گناه کوې ، دا چی موقع لرې نو کوه یې . خو یوه ورځ به حتمأ ذلیل کیږې . که ژر یا وروسته نه وی ، په آخرت کی خو به وی ؟!**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۴۹ ) د یو قبر پر شنخته داسی لیکلي وو**

**زه اصلاً د همدغه ځای له پاره مقرر سوی وم خو په دا منځ کی می یو څو شپې په دنیا کی تیری کړې ، یعنی هغه بې وفا دنیا چی خپلو خورا نږدې او گرانو خپلوانو می همدلته تر خاورو لاندی کړم**

**آیا زه او ته به هم دغسی نه سو ؟ پس نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(٥٠ ) د تولو اړتیاوو ځواب**

**سهار او ماښام یې اووه ځله ولولئ : حَسبیَ اللهُ لا اِلهَ اِلا هُوَ عَلیهِ توَکلتُ وَ هُوَ رَبُ العَرشِ العَظِیم ( ابو داؤد ٥٠٨١ )**

**دا د سورۃ توبه آخري آیت دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(٥١ ) اصلي سکون**

**هیڅ شی مفت نه دی بلکی په راکړه ورکړه سره حاصلیږی . حتی هوا هم وړیا نه ده ، تر څو چی تیره ساه و نه باسي نوې ساه نسي اخیستلی**

**تر څو چی یو ګام راپورته نکړې بل ګام نسي اخیستلی**

**تر څو چی شا ته رانسي پر مخ توپ نسي وهلی**

**لنډه دا چی تر څو الله تعالی راضي نکړې سکون نسې ګټلی ( مهمه نه ده چی هر څه لرې ، خو بې سکونه به یې )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(٥٢ ) د ایمان کمزوري**

**موږ دا منو چی هر څه الله تعالی کوی . نو بیا دا ولی د زړه له اخلاصه نه منو چی الله تعالی چی څه کوی صحیح یې کوی ؟**

**پس دا خو به د ایمان کمزوري نه وی ؟! یا دوه مخي خو به نه وی ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۵۳ ) دوستي او خپلوي

**عفوه او بخښنه دا نه ثابتوي چې ته ناحقه يې او هغه صحيح دی . بلکې له دې معافۍ څخه دا ثابتيږی چې ته د دې دوستۍ يا معاملې غوښتونکی يې خو هغه نه دی . ته صادق ، بې غرضه ، صحيح او په زړه پاک يې خو هغه نه دی**

**مگر يوه باريکي سته او هغه دا چې د بدخواه ، مغرضو او حاسدو دوستانو څخه صرف ځان گوښه کړه او بس**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۴ ) مسموم ذهنونه

**ځيني خلک داسی دي چې کله ستا ښه والی واوري نو معمولي او سطحي يې ومني ، خو کله چې ستا بد والی واوري نو بيله تصديق ، بيله ثبوت او بيله شکه يې زړه ته واچوي . دا ځکه چې ذهنونه يې مسموم دي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۵ ) اخلاقي کنايه

**يوه ورځ چاقو ، خنجر ، تورې ، نيزې او غشي خپل تر منځ مجلس درلود . نو د يو بل څخه يې وپوښتل چې په موږ او تاسو کی کوم يو ډير زور او شديد ټپ جوړوي ؟**

**خو « الفاظ » يې شا ته ناست وو او پر خندل يې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۶ ) په مصيبت کی مصيبت

**حضرت صديق (رض) فرمايلی دي : « په صبر کولو کی کوم مشکل نسته ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو په ژړا او فریاد کی بیا کومه ګټه نسته**

**نو له دې معلومیږی چی په مصیبت کی بې صبري دوهم مصیبت دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۷ ) د خلکو انحراف

**د فتنو په دې نړۍ کی به کله یوازی یې ؟**

**که دې تریخ حقیقت ووایه ؛ که صادق وې ؛ که دې غیبت منع کاوه ؛ که دوه مخه نه وې ؛ که دې غلط یا درواغ نه منل ، که دې د فاسق صفت نه کاوه ، نو پوه سه چی بې کسه او بې وسه به یې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۸ ) د نښې منځ

**یو عالم څه ښه ویلی دي : په کومه ټولنه کی چی د احساس نشتوالی عام سی ، نو هلته د کوم بل عذاب ضرورت نسته**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۵۹ ) اعتدال بری دی

**د مولانا جلال الدین بلخي څخه یې وپوښتل چی زهر څه ته وایي ؟**

**هغه وویل : هر هغه شی چی زموږ تر اړتیا اضافه سی زهر دی ، که هغه خواړه وی ،**

**یا قدرت ، یا مال او دولت ، یا لوږه ، یا حرص ، یا مینه او محبت ، او یا هم کرکه او نفرت وی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۰ )   د قرآنکریم دایمي معجزه**

**قرآنکریم د « الله » په نوم پیلیږی ( بسم الله : د الله په نوم ) او د « انسان » په نوم ختمیږی**

**( الناس : خلک ، انسانان ) . مطلب دا چی د الله تعالی له خوا د انسانانو ( خلکو ) له پاره**

**مهمه لا دا چی لومړنی پیغام او وحی یې هم « ویل ، لوستل » دی ( اقرأ ) یعنی د علم اساس ! نو ثابته سوه چی دا آسماني کتاب علمی او مترقي دی یعنی د ساینس او تکنالوژی توَمنه لری ! پس اسلام یو علمي او مترقي دین دی**

**له همدې امله د نړی مشهور ساینس پوهان او عالمان ډیر په اسلام مشرف کیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۱ )   د زماني ګړندی اوښتون**

**د ساعت « دقیقه ښود » وایی چی اوس لا یو څه وکړه . ځکه زه چی یو ځل تیر سم بیا نه را ګرځم که نه ، هغه به یو بل عصر وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۲ )   ظالم که مظلوم ؟**

**ګناه کول ښکاره ظلم دی او ګناه کار یعنی ظالم . ظالم کیدل یا مظلوم کیدل ډیر آسانه دی . نو بهتره دا ده چی ظالم نسو**

**. شیخ عبدالقادر جیلاني (رح) ویلی دي : « مه ظالم جوړیږه او مه مظلوم**

**که دي چاره نه وه نو مظلوم سه او د ظلم څخه په کلکه ځان وژغوره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۳ )** **لا تر څو؟**

**د انسان ماضي که هر څومره د ګناهونو څخه ډکه وی ، آینده خو یې همدا اوس باالکل پاکه ده**

**الله توبه قبلوي . نو نه غواړې چی راتلونکي دې پاکه وی ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۴ )** **متوجه اوسه**

**تل په یاد ولره چي ټولي خبري دې ملایکي د ځان سره لیکي . ګرده لیکنی ، شعرونه ، پوستونه او کمنټونه دې هم درپسی لیکل کیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۵ )** **مجازي مینه وال**

**څوک چی د خپلی میرمنی سره د محبت او عشق اظهار عیب ګڼي ، خو د محبوبې یا معشوقې له پاره د عشق اظهار فخر بولي دغسی انسان « مجازي عاشق یا شهواني مریض » دی**

**دا لکه هینداره چی له یوې خوا خیرنه وی خو دئ یې بله خوا پاکوي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۶ )** **رغنده بدلون**

**دا چی زموږ ځینی ګناهونه زموږ او د الله تعالی تر منځ د راز په حال کی دي ، نو ولی داسی نیکی نه کوو چی هغه هم ورسره د راز په حال کی وي ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۷ )   نیکی که بدی ؟**

**ولی غرور ؟ ولی حسد ؟ ولی کینه ؟ ولی درواغ ؟ ولی غیبت ؟ ولی تهمت ؟ ولی ظلم ؟ ولی خیانت...... ؟**

**آیا نه پوهیږې چی د ژوندانه د دې سفر یوازینی لاره قبر ته ده ؟ نو نیکی وړې که بدی ؟**

**خبر اوسه چی نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۸ )   خیرن زړونه**

**څه وکړو خو د حرص ، حسد او غیبت ږغونه دومره لوړ سوي دي چی د نصیحت ږغ یې منځ ته هیڅ نه ور رسیږی !**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۶۹ )   اسلام سوله ده**

**مشهور نړیوال ساینس پوه ( البرټ انشتاین ۱۸۷۹ ـ ۱۹۵۵ ) داسی ویلی دي**

**زما په فکر مسلمانانو د خپل عقل او ویښتوب له امله هغه څه کړي دي چی یهودو و نه کړای سول . یوازی اسلام دا طاقت لری چی سوله راولی**

**( انشتاین یو امریکایی یهودئ و چی په ۱۹۲۱ کی یې په فزیک کی د نوبل جازه ګټلې ده )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( ۷۰ ) د وخت راتېنګول

**وخت خو په هر صورت کی مختته ځي او درومی . نو که هغه خراب وی صبر کوه او که ښه وی شکر کوه**

**په دې سره به دې وخت راتینګ کړی وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۱ ) الهي رحمت او مرحمت

**یا الله ! ستا شکر ادا کوو چی مځکه دې ګردی ( کروي ) او متحرکه پیدا کړې ده . چی له امله یې ورځ او شپه جوړېږی ، موسم بدلیږی ، اکسیجن تولیدیږی ، ژوند پیلیږی ، نعمت او برکت خپریږی**

**نو یا لویه خدایه ! ستا د بې حسابه او لایتناهي رحمتونو او نعمتونو شکر ادا کوو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۲ ) پوهوَل او غوږ نیول

**د هوښیاری او پند خبری درې کسان ښه کولی سی : لومړی عالم ؛ دوهم سپین ږیری ؛ دریم : غم ځپلی**

**د دوی هره خبره سبق دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۳ ) مه ناوخته کوه

**که ته هر څومره ګناه کار هم یې ، الله تعالی درې لاری خلاصی درته پرې ایښي دي چی ستا تر زکندن پوری یې نه تړي : د دعا وعده ؛ د رزق ذریعه ؛ د توبې دروازه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو اوس لا وختي دی ، بیرته راستون سه او مه ناوخته کوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۴ ) جدي توجه

**پر لاره یا په دکان ، بازار ، کور یا دفتر کی د یو شخص له خوا د الهي ذکر کول یا تسبیحات ویل داسی دی لکه په مړو کی ژوندئ ، په بیدو کی ویښ او په ناروغانو کی جوړ شخص**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۵ ) اخلاقي کنایه

**یو عالم ته یو بې دینه شرابي وویل : دا شراب خو د انګورو او وریشو څخه جوړیږي ، نو ولی حرام دي ؟**

**عالم ورته وویل : دا ستا اودس ماتی خو هم د ډوډۍ څخه جوړیږي ؛ ولې یې نه خورې ؟**

**هغه بې دینه شرابي ډېر خړ او بې ځوابه سو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۷۶ ) پر ځان او جهان بې اعتباره

**« اعتبار » په دوستۍ او خپلوۍ کی د اکسیجن غوندی اهمیت لری . که پر یو چا « بې اعتباره » سوې نو د هغه دعاوی هم ښیراوی درته ښکاری ، او ښه یې هم په بدو کی شمیرې . دا ځکه چی د اکسیجن د نشتوالي له امله تړاوونه او رابطې بې تنفسه وی**

**نو ځان له ناکامی وژغوره ، یعنی پر اعتبار مه بې اعتباره کیږه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ۷۷ )

**یو مسکین ته په دې نیت صدقه مه ورکوه چی هغه ستا و صدقې ته محتاج دی ، بلکی په دې نیت یې ورکړه چی ته د الله جل جلاله مغفرت او د دې صدقې و قبلېدو ته محتاج یې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۷۸ )

**فقیر ته د صدقې ورکولو له پاره په جیب کی په خورا لږ مبلغ ( سِکه ) پسی گرځو . خو همدا مهال د الله تعالی څخه د جنت لوړترین مقام غواړو**

**ځومره ناڅیزه عطا کوو او څومره ستر عوض طلبوو**

**بېشکه چی الله رحیم او کریم دی ، مگر ته خو هم انصاف وکړه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۷۹) کره او پخه وینا

**زه د پوه انسان څخه هیڅکله نه بیرېږم ، بلکی د هغه احمق څخه بیرېږم چی د یو ځو کتابونو تر لوستلو وروسته ځان عالم بولی ( عثمانی سلطان عبدالحمید ).**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۸۰ ) عاجز او متواضع اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که د ګناه کارانو او فاسقانو سره کښيني نو پر ګناهونو به زړه ور سي ؛ که د ماشومانو سره کښيني نو بې سنجشه به سي ؛ که د پاچهانو ، آمرانو او سردارانو سره کښيني نو مغرور او متکبر به سي**

**پس د غريبانو سره کښينه چی عاجزي زده کړې . ( حضرت مجدد الف ثاني)**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۱ ) مهمه باريکي

**آيا پوهيږې چی نيکمرغه کيدل ولی ستونزمن دی ؟ ځکه چی هغه خوی او سلوک نه خوشي کوو چی زموږ د بدمرغی سبب کيږی . نو امتحان يې کړه بيا وګوره !**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۲ ) د صبر او شکر پيوستون

**که يو شی زموږ لاس ته راسی او شاکر اوسو خو وروسته هغه بيرته له لاسه ورکړو ( که هر څه يا هر څوک هم وی ) ، نو بايد دا خبره ومنو چی هماغه شی ( يا کس ) زموږ له پاره نه وو يا دا چی موږ د هغه له پاره نه يو . همدا فيصله په آسمان کی سوې وه خو پر مځکه اجرا سوه .**

**همدا د شکر او صبر د پيوستون مقام دی چی بايد ښه ورته ځير اوسو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۳ ) تېر هېر کړه

**د ماضی معنی ده ورک شیً**

**سيند پر شا نه درومی ، او نه هم را ختلی لمر بيرته ستنيږی**

**موږ د حال څخه بې پروا او په ماضی پورې کلک مښتي يو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپلی ښکلې مانۍ مو پرېښې دي او د ماضی په کنډوالو پسی ژاړو**

**نو تیر هیر کړه**

**( عایض قرني )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۸۴ ) ځان پالنه او عصبیت**

**بت ماتوَنه باید له ځانه راپیل کړو او د خپل دننه تول بتان او تعصبونه باید مات کړو ( سید جمال الدین افغاني)**

**ځومره عالی نصیحت**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۸۵ ) زموږ ذلت او حقارت**

**یا الله ! موږ ځومره ذلیل او ناکام یو ، ځکه**

**ستا په کارونو کی ډیره مداخله کوو ( په ناکامی سره ) ؛**

**ستا پر فیصله ډیر انتقاد کوو ( په خرابۍ سره ) ؛**

**ستا پر قضاوت باندی خپل قضاوت کوو ( په دښمنی سره ) ؛**

**ستا د ارادې او فیصلې مخالفت کوو ( په نهیلی سره ) ؛**

**ستا پر خبره سترگی پټوو ( په بې وسی سره ) ؛**

**ستا پر نعمت او رحمت باندی ناشکري کوو ( په سرځوړی سره ) ؛**

**ستا پر قدر او تقدیر باندی شک او تردید کوو ( په ناپوهی سره)**

**نو یا الله ! موږ ځومره ذلیل او مقهور یو چی تا منو ، خو ستا نه منو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۶ ) اخلاقي کنايه

يو عالم ويلی دي : زموږ حالت داسی دی چی په کور کی د غلو له لاسه سپی ساتو ، خو له بده مرغه د نورو شيانو پر ځای مو هماغه سپی غلا سو

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۷ ) اکثريت نه بلکی حق

پر کومه لاره چی اکثريت خلک روان وی شکمن او زړه نازړه اوسه ، ځکه هغوی اغلبأ تقليد کوي نه فکر

نو د يوازي والي څخه مه بيريږه بلکی حق د ځان ملګری کړه ؛ او له ډاره هم مه ډاريږه بلکی ډار له ځانه وډاروه

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۸۸ ) د ماضي بدلون ؟

ډيرئ خلک وايی چی ماضي ( يعنی تيره زمانه ) هيڅ نه بدليږی . مګر په حقيقت کی بدليدای سی . وګورئ د نن په عمل سره د ماضي ( يعنی پرون ) عمل بدلولای سو . که د يو چا ماضي په کفر کی وه ، خو همدا اوس کلمه ووايی نو مسلمان سو . يعنی که يو څوک په حال زمانه کی ( يا نن ) مؤمن وی نو په ماضي کی هم مؤمن سو . که يو ګناه کار توبه وکړي نو د نن په « ښه » عمل سره يی د پرون « بد » اعمال هم بدل کړل

پس راځی چی په يوه پاکه اراده سره خپله ماضي بدله کړو

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۸۹ ) یو عالم ویلی دي**

**« ! تر بوټونو وروسته چې موږ بل شی ډیر تر پښو لاندی کوو هغه انسانیت دی »**

**نو د ځاني ګټی له پاره باید نور پایماله نکړو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۹۰) سمندر په کوزه کی**

**د حسن بصري (رح) څخه یې وپوښتل چې د مومن راحت چیری دی ؟**

**هغه ورته وویل چې که غفلت ورڅخه سوی وی نو په سجده کی دی او که ګناه ورڅخه سوې وی نو په توبه کی دی**

**سبحان الله ، د ناکامی څخه د نجات څومره لنډ فارمول**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۹۱ ) بې ګټی مجلسونه**

**د غیبت ، حسد ، تهمت ، ځان پالنی او درواغ ویلو د مجلسونو څخه دا ډیر ښه دی چې یوازی اوسې نسبت دې ته چې د ناکسو او ناقِصو دوستانو دغسی مجلسونو ته ورسې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۹۲ ) انساني خوښۍ**

**باد پکه په خپله باد نه جوړوي تر څو موږ ته یې راوشړي . بلکی باد له مخکی څخه موجود وی خو پکه هغه ته ګړندی حرکت ورکوی او پر موږ یې راپوری وهی ( را شړي)**

**د انسانانو خوښی هم بالکل همداسی وی چی تل زموږ شا وخوا ته موجود او ساکن دي . بس د هغو منبع ته د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يو خوځښت ورکولو اړتيا ده تر څو دا حرکت په محيط کی خپور او ګړندی سی . موږ دغه تحرک ته سخت اړ يو ، نه زور او تزوير ته**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۹۳ )   د اوښکو څپې

**پر بالښت اوښکی تويول ستا حالت نه بدلوي ( يعنی ګټه نلری ) ، خو پر مصله اوښکي تويول ستا حالت بدلوي يعنی هغه څو ځاځکی ستا پريشانۍ په ځان کی ډوبوي ! امتحان يې کړه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۹۴ )   دعا د سکون دروازه ده

**يو څوک دې ډير ياديږی ؟ ورسه او ويې وينه ! نسي کيدای ؟ په وټس اپ ، وايبر کی ورسره وګوره !**

**هغه کار نه کوي ايميل او فېسبوک خو سته ! دا هم نه کيږی ؟ ټليفون ورته وکړه ! هغه هم نه کيږی ؟**

**خط ورته وليکه  دا هم نه کيږی ؟**

**نو دعا خو حتمأ ور رسيږی او ستا سکون حاصليږی ، امتحان يې کړه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۹۵ )   اغزن لورئ

**په کومه ټولنه کی چی « هر شی » او « هر عمل » جاري وی ، هغه ټولنه په اغزيو کی رهي وی**

**چی زموږ ټولني خو به همدا لورئ نه وی اخيستی ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۹۶ ) لا تر کله ؟

اې سرکښې نفسه ! لا څه ته منتظر يې ؟ کله توبه باسې ؟ ولې توبه ځنډوې ؟

که همدا اوس مرګ درته راسي نو الله ته به څه ځواب ورکوې ؟

آيا ورته وايې چې ځوان وم ؟ ورته وايې چې يو ځل زوړ سم ؟ ورته وايې چې هيره مې سوه ؟ ورته وايې چې پوه نه سوم ؟ څه ورته وايې ؟ آيا کومه پلمه لرې ؟

که پلمه او حيله کوې نو افسوس ستا پر حال ! که هوس دی نور دې بس دی . لطفاً پر ځان مه ناوخته کوه

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۹۷ ) پام چې باد دې يو نسي

نن چې خلک ستا هغه صفتونه او ښه خويونه بيانوي چې په تا کې نسته ، نو سبا به پر تا هغه الزامونه او تهمتونه هم تړي چې په تا کې نسته

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

( ۹۸ ) د الفاظو اثر

الفاظ د بنده غلام وی مګر تر ويلو وروسته بنده د الفاظو غلام سی . الفاظ او کلمات مړه ژوندي کوی او ژوندي ژرونه هم مړه کولای سي . د الفاظو غلط استعمال « رحمت » په « زحمت » سره بدلولی سی او

دعا » په « دغا » سره »

نو الفاظ د فکر لباس دی چې بايد خپل فکرونه پرې ملبوس او ملفوف کړو

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( ۹۹ )    ښکنځل او پوچ الفاظ

یو عالم ویلی دي :

په حقیقت کی بې سوادي له منځه نه ده تللي بلکی بېسوادانو صرف لیکل او لوستل زده کړي دي

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۰۰ )    ښځه د کور بي بي ده

ځینی خلک وایی چی ښځه کور نلری ( ځکه د پلار په کور کی میلمنه وی ، د میره په کور کی بیګانه وی ، د اولاد په کور کی اضافه وی ) . خو داسی نه ده بلکی هر کور بیله ښځی څخه اصلاً کور نه دی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۰۱ )    روحي سکون

یو عالم ویلی دي : کله چی یوه سوم چی ډیرئ خپلوان می غرض او مرض لری نو خپل رب ته مخ اړول ډیر راته آسانه سو ؛ بېغمه او روحاً آرام سوم

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۰۲ )    نېک عمل تلپاته وی

تر مرګ وروسته زړه لس دقیقي ژوندی پاته وی ؛ دماغ شل دقیقي پاته وی ؛ سترګی څلور ساعته پاته وی ؛ پوست پنځه ورځی پاته وی ؛ هډوکی دیرش ورځی پاته وی

خو نېک عمل تلپاته وی ! بس یوه پاکه اراده او فیصله غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۳ )    اخلاقي كنايه**

**د يوې ركشا پر شا عجيبه جمله ليكلې وه : هارن كرار واهه ، ولس بيده دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۴ )    آسانه اجر او ثواب**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي**

**د كمزوره انسان مرسته كول صدقه ده ( ابن حبان ۳۳۷۷)**

**د يو غمجن محتاج سره مرسته كول صدقه ده ( نسايی۲۵۳)**

**دوارې مرستی ګڼ شمير انواع لری . نو څومره ارزانه او آسانه ثواب**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۵ )    روغتيا ساتنه**

**ابن سينا څومره عالی او علمی خبره كړې ده : هر شی لږ يې دوا ده ، متوسط يې غذا ده ، خو ډير يې زهر دی**

**سبحان الله ! څومره عيني او عملي نسخه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۶ )    اخلاقي كنايه**

**يو بې پروا ځوان په ملنډو سره يو مسكين او كمزوره بابا ته وويل چی له ليری می فكر وكړ چی ښځه يي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بابا ځواب ورکړ چی ما بیا له لیری ولیدې نو فکر می وکړ چی نارینه یې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۷ )   اخلاقي کنایه**

**یو بې پروا ځوان په ملنډو سره یو مسکین او کمزوره بابا ته وویل چی له لیری می فکر وکړ چی ښځه یې**

**بابا ځواب ورکړ چی ما بیا له لیری ولیدې نو فکر می وکړ چی نارینه یې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۸ )   د معاشرت آداب**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : د غیر مسلمانانو د سلام په ځواب کی وعلیکم وایاست**

**( صحیح بخاري ۲۹۳۵)**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۰۹ )   د انسان انسانیت مهم دی**

**د خرابو خلکو تر هیرولو او د ښو خلکو تر لټولو خو دا بهتره ده چی د خلکو خرابی خبری هیری کړو او د هغوی ښې خبری ولټوو**

**دا ځکه چی انسان ثبات نلری، یعنی خراب خلک ښه کیدای سی او ښه خلک خراب کیدای سی**

**پس له ګناه باید کرکه وکړو نه له ګناه کاره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۱۱۰ ) خورا ستر او خورا کوچنی**

**یو عالم ویلی دي :**

**» دی او تر ټولو کوچنی امتحان ورکونکی د الله جل جلاله تر ټولو ستر امتحان اخیستونکی الله جل جلاله »**

**خو موږ لا بیا هم ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۱ ) د قرآن مجید یوه معجزه**

**د قرآنکریم د نزول پر مهال نه پوهنتون و ، نه پوهنځی ، نه د حساب ماشین و او نه هم کمپیوټر .**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم سواد نه درلود ، نه یې مکتب یا پوهنتون لوستی و او نه یې هم د**

**حساب ماشین یا کمپیوټر درلود**

**څه وخت چي قرآن شریف نازل سو ، د هغه مهال انسانانو د نننۍ تکنالوژۍ په اړه په خپلو ذهنونو کي**

**د هغه خاکه هم نه سوای تصور کولای**

**قرآنکریم د هغه مهال د انسانانو ، نننیو انسانانو او آینده انسانانو د ژوندانه ټول اړخونه مدنظر نیولي دي چی دا پخپله د دې الهي کلام یوه سترتیا او معجزه ده**

**( مأخذ : قرآني ریاضي ، ۲۵ مخ ؛ ۲۰۰۹ ؛ ( لیکوال : نثار احمد صمد واصفی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۲ ) تریخ حقیقت**

**په کومه ټولنه کی چی کشران د مشرانو احترام نلري یا برابرئ ورسره غواړي ، د هغې ټولنی کوچنیان به هیڅکله غټان نسي او کشران به یې هیڅکله مشران نسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۳ )   منفرد کردار**

**تل منفرد کردار لره . لکه مالګه چی شتون یې مهم نه ښکاری خو نه شتون یې ټوله خواړه بې خونده کوي**

**لکه بوره چی شتون یې مهم نه ښکاری خو نه شتون یې ټوله خواړه بې خونده کوی**

**لکه مرچ چی شتون یې اهمیت نلری خو نشتون یې ټوله مصالي بې خونده کوی**

**هر څوک ضعیفه او پیاوړي قابلیتونه لری . نو تر خپله وسه خو یو ادنی خدمت وکړه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۴ )    تریخ حقیقت**

**وایی په دنیا کی دوه ډوله غله شتون لری . یو کوچني غله چی پولیس یې نیسی او دوهم غټ غله چي پولیس یې ساتي**

**نن متأسفانه هیڅ ټولنه له دې حالته ماسپوا نه ده ، ځینی لږ ، ځینی ډیر خو ځینی خورا ډیر**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۵ )   د ګناه سیوری**

**امام غزالی (رح) ویلی دي**

**بیشکه د ګناه کونکو زړونه تور وی . د زړه د توروالي علامه دا ده چی**

**الف ـ د ګناهونو څخه بیره نه وی [ ښه پوهیږی چی ګناه ده مګر کوي یې ] ؛**

**ب ـ د اطاعت څخه سعادت نه حاصلیږی [ عبادت کوي خو ګناهونه هم ورسره کوي ] ؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج ـ نصيحت اثر نه کوی [ نصيحت مني خو عمل نه کوی ، نو هغه پخپله بې تأثيره سو ] ؛**

**ښه ، راځی چی اوس نو ځانونه وجدانأ او بيطرفانه و ارزوو چی څنګه يو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۱۶ ) اخلاقي کنايه

**موږ خو له خپلو ژاړو**

**يوه ورځ « سره زر » او « اوسپنه » سره ناست وو ، او خبری يې کولې . سروزرو اوسپنې ته وويل چی زه او ته دواړه په چکش وهل کيږو ، خو ته ولی ډير فرياد کوې او نارې وهې ؟**

**اوسپنی ورته وويل چی کله دې خپل وهي نو درد هم خورا زيات وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۱۷ ) د ځان بدلون د جهان بدلون دی

**موږ ځان نه بدلوو خو نور په زاريو يا په زوره بدلوو ! عجيبه ده ، دغسی کسان د نورو د نجات له پاره کښتئ جوړوي خو پخپله يې لامبو هم نه وی زده**

**همدا علت دی چی الله تعالی لارښوونه راته کوي چی تر څو په ځان کی ( رغنده ) بدلون رانه وړې ، روان حالت دې نه بدليږی ( الرعد : ۱۱ )**

**په رښتيا هم د ځان بدلون د جهان بدلون دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۱۸ ) اوس هم ناوخته نه دی

**د يوې نېکی په کولو سره انسان نه پرهيزګار کيږی ، خو د يوې ګناه په کولو سره حتمأ ګناه کار کيږی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو راځئ چی توله دا دعا بدرگه کړو : یا الله ! زما هغه گناهونه را معاف کړه چی دعاوی می د قبلېدو څخه راگرځوي ، آمین**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۱۹ )   په قرآنکریم عمل**

**فضیل بن عیاض (رح) ویلی دي :**

**«قرآنکریم د دې له پاره نازل سوی دی چی عمل پرې وکړو ، خو خلکو یې لوستل عمل وگرځاوه »**

**استغفرالله . نو که تلاوت یو ثواب لری ، عمل یې د ثوابونو زخیره ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۰ )   قضاوت قاضي ته پرېږده**

**یا الله ! ما وبخښه ، ځکه د هر چا او هر شي په هکله دومره ډېر او په خپل سر قضاوت کوم چی دا می هیره کړې ده چی قاضي خو ته یې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۱ )   منفي سپما**

**موبایل چارجول د سکون سپما ده ؛ ټلویزیون لیدل د ثوابونو سپما ده ؛ د برق د تللو پر وخت بی صبري**

**کول د زغم سپما ده ؛ اسراف کول د صدقي سپما ده ؛ سگرېټ څکول یا نسوار کول د ژوند سپما ده ؛**

**سود او رشوت د حلالو سپما ده**

**نو راځی چی په پاکه اراده او فیصله سره د ټولو منفي سپماوو څخه ډډه وکړو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۲ )     گناه مه درَنوَه**

**نه شراب په بسم الله سره حلال کيږی ؛ نه د بېگناه مسلمان وژل په الله اکبر سره روا کيږی ؛ نه د سود**

**ورکول يا خوړل په حيله سره جايز کيږی ، نه رشوت ورکول يا اخيستل په مجبوريت سره تلقين کيږی**

**نو د خدای له پاره ، د گناهونو پيتی مه درنوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۳ )     هر يو قاضي يو**

**نن په هر مجلس او حتی دوه کسيزه خبرو اترو کی هم زموږ هر کس او ناکس په خپل سر وکيل دی ، قاضي دی ، مفتي دی او څارنوال دی . له ځانه قضاوتونه او فيصلې کوو . يعنی څوک قضاوت نه راڅخه غواړي خو موږ پخپل سر قضاوت کوو**

**که موږ هر مجلس ته ځير سو نو وبه گورو چی له بده مرغه زموږ قضاوتونه بيله محکمې دي او فيصلې مو بېله محاکمې دي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۴ )     اسلام يعنی څه ؟**

**يو چا د حضرت حسين (رض) څخه وپوښتل چی اسلام مختصراً راوپيژنه**

**هغه ورته وويل چی د خالق عبادت او د مخلوق خدمت دی**

**هم ذکر ، هم تسبيح ، هم استغفار او صدقه**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لا اله الا الله ویل صدقه ده . سبحان الله ویل صدقه ده . الحمدلله ویل صدقه ده . الله اکبر ویل صدقه ده . استغفرالله ویل صدقه ده**

**( صحیح مسلم ۱۰۰۷ )**

**سبحان الله ، څومره ستر اجر ، وړیا ثواب او برکت**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۲۵ ) انساني قضاوتونه

**که ته نیک او ښه یې خو خلک دې بد وبولی تر دې ښه دی چی ته بد او غلط یې لاکن خلک دې ښه وبولی . ځکه د خالق قضاوت مهم دی نه د مخلوق**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۲۶ ) فاسق او صادق

**د دنیا تر ټولو « بده بایلنه » دا ده چی د یو چا په سترګو کی اوښکی ستا له لاسه وی . خو په دنیا کی**

**تر ټولو « ښه ګټنه » دا ده چی د یو چا په سترګو کی اوښکی ستا له پاره وی**

**نو ښه ګټندوی ( صادق یا خادم ) اوسه ، نه بد بایلونکی ( فاسق او ظالم)**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## ( ۱۲۷ ) قوت ، عاجزي او ژړا

**حضرت علی (رض) ویلی دي : اودس د ځوانانو په رقم تازه کړه ، لمونځ د بوډاګانو په رقم وکړه او دعا د ماشومانو په رقم وکړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۸ )  مور ، جنت مکان**

**جنت وايي : مور هغه هستي ده چې زه يې هم تر قدمونو لاندي يم**

**دا چې د مور تر پښو لاندی جنت دی ، نو د سر او زړه به يي څومره مقام وی**

**سبحان الله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۲۹ )  تجربه**

**که موږ تر څان د يو شتمن په ليدو سره له خدايه د شکايت پر ځای تر ځان د يو غريب په ليدو سره له خدايه شکر وکړو نو پريشانی به مو حتماً رفع او دفع سی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۳۰ )  خورا مهم تجارت**

**کله چی د دنيا د مفليسی څخه په تنګ سې او د رزق دروازې درته وتړل سی نو د الله تعالی سره تجارت وکړه ، يعنی صدقه ورکړه او امتحان يې کړه**

**ته به ووايې چی هيڅ نلرم ، څه شی صدقه کړم ؟! داسی نه ده بلکی ښه خبره هم صدقه ده ، ښه رويه هم صدقه ده ، مرسته هم صدقه ده ، هڅونه هم صدقه ده ، موسکا هم صدقه ده ، د ضرورت ورځی ته د يو ساتلي شي ورکړه تر ټولو ښه صدقه ده...... خو پام چی په صدقه کی ريا ونکړې**

**نو مه ناوخته کوه ـ صدقه ردِ بلا ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۱۳۱ ) اخلاقي کنايه**

**ننني حالات خو داسی دي چی تر څو ربښتيا بوټونه په پښو کوی ، درواغ بيا پر نيمه نړۍ را گرځېدلی وی**

**استغفرالله ، څومره سرعت**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۳۲ ) سترگه وَر ړوند**

**سترگی د دنيا هر شی ليدلی سی ، خو که پخپله په سترگه کی يو شی ننوزی نو هغه هيڅ نسي ليدلی**

**انسان هم د نورو عيبونه ښه ترا ليدلی سی خو که کوم عيب د ده وجود ته ننوزی هغه**

**هيڅ نسي ليدلی بلکی ړوند وی**

**په ربښتيا چی د قرآنکريم له مخی ځينی انسانان سترگی لری خو ړانده دي ، غوږونه لری**

**خو کاڼه دي ، ژبه لری خو گونگيان دي ! استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**( ۱۳۳ ) د استاد درناوی**

**امام ابو حنيفه (رح) په يو مجلس کی ناست و چی يو هلک راغی . امام صاحب د هغه هلک د عزت له پاره ورته ودريدی . چا پوښتنه ځنی وکړه چی امام صاحب ! څنگه د دې هلک مخي ته ودريدې ؟**

**امام صاحب ورته وويل : دا زما د استاد زوی دی . يو وخت می د ده د پلار څخه يوه مسئله زده کړې وه . که زه د استاد تعظيم ونه کړم ، نو څنگه به د خپل علم څخه گټه واخلم ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ۱۳۴ )   د تولنې ورانی او ودانی**

**د ډاکټر غلطي یو انسان له منځه وړی ؛**

**د انجینیر غلطي یو تعمیر ( یا پُل... ) له منځه وړی ؛**

**د قاضي غلطي یو کهول له منځه وړی ؛**

**خو د معلم غلطي جامعه له منځه وړی**

**هو ، معلم هغه روښانه شمع ده چی ځان ویلي کوي خو رڼا خپروي . نو د معلم زحمت د تولنی عزت دی**

**زه خپلو تولو ښوونکو او استادانو ته ( چی ژوندي دي ) الهي رحمت او ( چی وفات دي ) الهي مغفرت غواړم**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۵)   اکسیجن ستر نعمت**

**یو انسان د ژوندي پاته کیدو له پاره هره ورځ یو سلنډر اکسیجن مصرفوي چی بیه یې دری نیم زره روپۍ ده . د میاستی یې یو لک او پنځه زره روپۍ مصرف دی . د کاله تقریباً ۱۳ لکه روپۍ کیږی . اوس که د یو انسان تول ژوند ۶۰ کاله وبولو نو په دومره موده کی به دا لګښت اته اویا ( ۷۸ ) ملیونه روپۍ سی**

**خو الله تعالی دومره ګران بیه او حیاتی ماده بالکل وړیا راکوي او موږ هیڅ نه خبروي .**

**« نو ته لا د الله تعالی کوم کوم نعمت نه منې »**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۶)   پر الله تعالی هغه کسان ګران دي چی**

**دعا لری خو ادعا نلري ؛ روا لری خو ریا نلري ؛ وفا لری خو جفا نلري ؛ اخلاص لري خو اختلاس نلري ؛ عاجزي لري و لويي لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۶)** **ازلي دښمن**

**ښايی ځينی کسان امريکا ، برتانيه ، روسيه ، اسراييل.... د بشر تر ټولو ستر دښمنان وبولی . خو دوی يوازی د انسان دا دنيا خرابولی سی . اصلي دښمن بل دی چی تر دوی ډير خطرناک دی . هغه کولای سي چی د انسان دنيا او آخرت دواړه خراب کړی**

**دغه ستر او خطرناک دښمن « ابليس » نوميږی چی لقب يې « شيطان » دی . دئ تر ټولو ستری وسلې او تجهيزات لری . آن يوه ثانيه هم د انسان سره له جنګه نه بېکاره کيږی**

**نو زموږ جنګ د دغه لعين دښمن سره فرض دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۷)** **تاوان خپل ګټه د بل**

**زموږ او ستاسو شتمني هغه ده چی آخرت ته يې وليږو . څه چی په دنيا کی راڅخه پاتيږی هغه زموږ نه ، بلکی د وارثانو مال دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۸)** **الله تل په ياد لره**

**دا مه هيروه**

**د خوښی او ښادئ پر مهال ثنا او ستايل د ( الله جل جلاله)**

**د سختی او بيچارګئ پر مهال ميندل د ( الله جل جلاله)**

**د آرامئ او سوکالئ پر مهال لمانځل د ( الله جل جلاله)**

**د نا آرامئ او بېقرارئ پر مهال توکل ( الله جل جلاله)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تشکرئ او مهربانی پر مهال یادول د ( الله جل جلاله)**

**د عذاب او مصیبت پر مهال پناه لرل د ( الله جل جلاله)**

**نو تل او په هر حالت کی الله مه هیروه چی الله هم تا هیر نکړی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۳۹) آسانه نسخه**

**دا کوښښ مه کوه چی تر نورو ښه سې ، بلکی دا کوښښ کوه چی تر پخوا ښه سې**

**تجربه یې کړه بیا وګوره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۰) د ( ۷ ) ستر اهمیت**

**اووه زموږ په ژوند او حتی عبادت کی ستر رول لری مثلاً**

**آسمانونه اووه دي ؛ په قرآنکریم کی همدا اووه اسمانونه هم اووه ځله ذکر سوي دي ؛**

**د قرآنکریم د لومړني سورت ( الفاتحه یا الحمدلله ) آیتونه اووه دي ؛**

**رنګونه اووه دي ؛**

**د هفتې ورځی اووه دي ؛**

**د اتوم مدارونه اووه دي ؛**

**پر کعبه اووه واره طواف کوو ؛**

**د صفا او مروا تر منځ اووه واره تګ راتګ کوو ؛**

**جمرات یعنی شیطان اووه ځله په شګو ( وړو ډبرو ) ولو او هر ځل اووه شګی وی ؛**

**د دوږخ دروازې اووه دي او ډیر نور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مأخذ : قرآني رياضی ( ۳۴۴ مخ ) ؛ مؤلف : نثار احمد صمد واصفی ، ۲۰۰۹**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۱)     الله تعالی نن شاهد خو سبا قاضي دی**

**نو د ګناه څخه وبیریږه هغه هم د شاهد په مخکی ، هغه شاهد چی سبا پخپله ستر قاضی دی او فیصله کوي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۲)     توجه او پاملرنه**

**کله چی ټولنیزي رسنی مثلاً فیسبوک استعمالوو ، باید جداً متوجه اوسو چی زموږ الفاظ زموږ اصلي څیره معرفي کوي او هم زموږ د کورنی تربیې نمایندګي کوي ، او هم زموږ اخلاقي مقام ټاکي**

**نو څومره باید پام وکړو چی خپل شخصیت سم معرفي کړو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۳)     علم او جهل**

**که زما علم ما ته د انسان سره مینه او محبت نسي راښودلی نو یو جاهل تر ما زر واره بهتر دی**

**( مولانا جلال الدین بلخي )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۴)     پر ځان او ټولنه احسان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څومره وخت چی پر نورو باندی په انتقاد کی مصرفوې ، هغومره وخت د خپل ځان په اصلاح کی مصرف کړه .**
**ځکه د نورو اصلاح ستا اختیار نه دی ، مګر خپله اصلاح دې په خپل اختیار کی ده**

**دا به دې پر ځان او ټولنه لوی احسان وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۵) یوازی نن لرې**

**ډاکتر عایض قرني څه ښه ویلی دي : ژوند په اصل کی همدا نن ورځ دی . پرون مړه سوې ده ،**

**سبا لا زوکړېدلې نه ده**

**نو همدا نن لرې چی ژوند لرې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۶) عقیده او حقیقت**

**یو عالم ویلی دي : عقیده کیدای سی چی زما عقیده وی ، ستا عقیده وی ، د فلاني عقیده وی ؛**

**خو حقیقت نسي کیدای چی زما حقیقت وی یا ستا یا د فلاني حقیقت وی**

**حقیقت اصلاً د هیچا مربوط نه دی بلکی آزاد او د ټولو دی**

**له همدې امله خلک تل د عقیدې په سر جنګیږی نه د حقیقت په سر**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۴۷) عواطف**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چی ګناه کار انسان وژړل ، نو پوه سه چی خپل پیغام یې تر الله تعالی پوری ورساوه**

**مګر کله چی د چا په سترګو کی قحطي راغله نو پوه سه چی زړه یې سخت سوی دی . ظالم دی ، ترې ګوښه سه او احتیاط ورسره کوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۱۴۸) ستا یې له خیره چی ناحقه ویاړې ؟

**که ته ښکلی یې مه پرې نازیږه ، ځکه دا ښایست خو تا پخپله نه دی جوړ کړی ؛**

**که ته د یو خاص قوم یا نسل څخه یې په دې هم فخر مه کوه ، ځکه دا هم تا پخپله نه دی اختیار کړی ؛**

**که ته د یو شتمن یا واکمن اولاد یې په دې هم ویاړ مه کوه ، ځکه دا هم تا پخپله نه دی ګټلی**

**نو ستا کمال دا دی چی په اخلاقو دې وویاړه ، په لیاقت دې وویاړه ، په خدمت او صداقت دې وویاړه چی دا به تول تا پخپله ګټلی وي . همدا د اسلام لارښوونه او غوښتنه ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۱۴۹) فکر او شکر

**پریشاني او آساني د یوې سکې دوه مخه دي . دواړه د انساني ژوندانه حتمي اجزا دي . نو په پریشاني کی فکر او په آساني کی شکر کوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۱۵۰) خورا مهم تجارت

**کله چی د دنیا د مفلیسی څخه په تنګ راسې او د رزق دروازې درته وتړل سی نو د الله تعالی سره تجارت وکړه ، یعنی صدقه ورکړه . امتحان یې کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ته به ووايې چې هيڅ نلرم ، څه شی صدقه کړم؟! داسی نه ده ، ښه خبره هم صدقه ده ، ښه عمل هم صدقه ده ، مرسته هم صدقه ده ، هڅونه هم صدقه ده ، موسکا هم صدقه ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۵۱)** **وخت راتېنګوه**

**همدا نن ستا هغه سبا دی چې پرون ورته په طمع وې . نو ځان د پرون او سبا تر منځ مه ځوړند کوه ، بلکی څو ثانيي يا څو دقيقي يا څو ساعته وروسته به همدا « نن » هم درڅخه « پرون » سی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۵۲)** **ډير بې انصافه نه يو ؟**

**که تلويزيون خراب سی وايي ماشومانو خراب کړ ؛ خو که ماشومان خراب سي وايي تلويزيون خراب کړل**

**په دواړو حالاتو کی ملامت موږ پخپله يو ، خو پر معصومو کوچنيانو يې تاوانوو**

**نو هر څه مو همداسی وبوله . ښايی اصلی علت يې زموږ بې باکي وی ، يا بې غوري وی ، يا بې وسي وی چی داسی حالت رامنځته سوئ وي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۵۳)** **د جاهل ضديت**

**په يوه دليل می څلوېښت پوهان قانع کړل ؛ خو په څلوېښت دليله می يو جاهل هم قانع نکړ**

**( مولانا جلال الدين بلخی )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۱۵۴)   ودرېږه او شا ته وګوره

د غلطيو په منلو ، زړه سَمَوَلو او ګناه پرېښودلو کی ځنډ مه کوه ، ځکه لاره چی څومره اوږدېږی راستنېدل هغومره ګرانېږی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۱۵۵)   د ناپوهانو حق

متل دی چی د عقل وږی او د پيسو موړ نسته . علما وايی چی پر موړ ناپوهان درې حقونه لري

لومړی ـ صبر او زغم : د هغوی هر ډول ناوړه چلند به زغمئ او تحمل به کوئ

دوهم ـ شفقت او مهرباني : که د هغوی څخه کوم غلط او ناسم کار ووينئ نو د کرکې پر ځای به شفقت پر کوئ

درېيم ـ لارښوونه او متوجه کول : د هغوی درېيم حق دا دی چی سمه لارښوونه به ورته کوئ ، خير دی که هغوی يې مني يا نه

هو ، که موږ او تاسو دا مجربه نسخه د هری ورځی تلن لاره وګرځوو ، يعنی د ناپوهانو حق ادا کړو ، نو دنيا او عقبا به مو ځلانده وی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۱۵۶)   د سولې آرمان

سوله د هوا د تنفس په شان هر انسان ته ستر اهميت لري . « او سوله ښه ده » ( النسأ ۱۲۸ ) . که د اسلام مبارک لفظ ريښه وڅېړل سي نو د عربي ژبې د « سِلم » څخه اخيستل سوی دی ، چی د سولې او امن معنی لري . نو ځکه اسلام د سولې او امن دين دی

په لغوي معنی سوله او امن سم والي ، کره والي ، د دوو خواوو تر منځ د دښمنی پای ته رسولو او پخلا کولو ته وايي. د ادبي پلوه سوله روڼا ده ، سپينه ورځ ده ، سمسورتيا ده ، شتمني ده ، نيکمرغي ده ، ښيرازي ده ، آرامي او سوکالي ده ، سرلوړي ده ، خپلواکي ده او ټولواکي ده . نو د ژوند اخيستلو پر ځای ژوند ژغورل پکار

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دی**

**د همدغسی حقیقي سولې په امید**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۵۷)** د سولې آرمان

**سوله د هوا د تنفس په شان هر انسان ته ستر اهمیت لري . « او سوله ښه ده » ( النسأ ۱۲۸ ) . که د اسلام مبارک لفظ ریښه وڅېړل سي نو د عربي ژبې د « سِلم » څخه اخیستل سوی دی ، چی د سولې او امن معنی لري . نو ځکه اسلام د سولې او امن دین دی**

**په لغوي معنی سوله او امن سم والي ، کره والي ، د دوو خواوو تر منځ د دښمنۍ پای ته رسولو او پخلا کولو ته وايي. د ادبي پلوه سوله روښا ده ، سپینه ورځ ده ، سمسورتیا ده ، شتمني ده ، نیکمرغي ده ، ښیرازي ده ، آرامي او سوکالي ده ، سرلوړي ده ، خپلواکي ده او ټولواکي ده . نو د ژوند اخیستلو پر ځای ژوند ژغورل پکار دی**

**د همدغسی حقیقي سولې په امید**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۵۸)** د دعا اړتیا

**یو چا د کوم بزرګ او زاهد څخه وپوښتل چی که زموږ قمست له مخکی څخه لا لیکلی وی ، نو د دعا کول څه ضروري او حتمی ده ؟**

**شیخ ورته وویل چی کېدای سی ستا په قسمت کی همدا لیکلي وی چی کله یې وغواړې نو درکول سي**

**سبحان الله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۵۹)  د انسان او رحمان رضايَّيت**

**یو پاچا د نصیحت او پند اوریدلو ډېر شوقی و . نو یو متقي او بزرګ ته یې وویل چې داسی نصیحت راته وکړه چې انسان او رحمان دواړه راڅخه راضي سی**

**عالم ورته وویل چې ډېره ساده خبره ده او هغه دا چې د ورځی فقیرانو او محتاجانو ته کومک ورکوه چې انسانان درڅخه راضي سی او د شپې پخپله د الله تعالی څخه فقر کوه چې الله تعالی درڅخه راضي سی**

**هو ، دا نو دنیوي او اخروي بری دی . الله تعالی دې یې د هر شتمن ، هر سیاست وال او هر لوړچارې په نصیب کړی، آمین**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۰)  رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي**

**د هر خاین له پاره به د قیامت په ورځ یوه جنډه وی چې د هغه د خیانت د نښې په توګه به**

**( یې پر شا ) نصب وی ( صحیح بخاري (۳۱۸۸)**

**استغفرالله ، څومره به رسوا او ذلیل وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۱)  فاني ژوند**

**حضرت علی (رض) فرمایلی دي چې ژوند فقط دوې ورځی دی . یوه ورځ ستا په ګټه او بله یې ستا په زیان ده**

**نو په هغه ورځ چې ستا په ګټه ده « غرور » مه کوه او په هغه ورځ چې ستا په زیان ده « صبر » کوه**

**په رښتیا چې د بریالیتوب عملی نسخه ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۶۲)   د حالاتو جبر**

**ځینی وختونه پېښه خوله اختیاري نه بلکی مجبوري وی ، ځکه چی درواغ ویل نه غواړي خو رښتیا بیا ویلی نسي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۳)   اخلاقي کنایه**

**اسلام ( یعنی قرآن او احادیث ) راته وایی چی په محشر کی به یو د بل په غم کی هیڅوک هم نه وی بلکی هر څوک به صرف د ځان په غم کی وی**

**متأسفانه خلکو خو همدا اوس لا دغسی حالت راپیل کړی دی**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۴)   یو عالم څه ښه ویلی دي**

**که ظالم او مجرم ته د هغه د ظلم او جرم سزا ورنکړه سي نو هغه سزا به پر ګرده تولنه تقسیم کیږی**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۵)   تلپاته معجزه**

**په نړۍ کی هیڅ داسی کتاب نسته چی ۱۴ پیړۍ دې په دومره اصلی او خالص حالت کی ساتل سوی وی لکه قرآنکریم**

**سبحان الله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۶) د مځکی د سطحی او بطن فرق**

**عجیبه دنیا ده . په ژوند کی د ټولو انسانانو نومونه او لباسونه بیل بیل وی . یو شتمن وی بل غریب ، یو بې مقامه وی بل لوی مقامه ؛ یو انجینیر وی بل ډاکټر ؛ یو استاد وی بل شاګرد ؛ یو سوداګر وی بل سوالګر**

**خو تر مړینی وروسته د ټولو یو نوم وی : مَیَت ( یعنی مړئ ) یا جنازه**

**د ټولو یو ډول قبر وی ، د ټولو یو ډول کفن وی ، د ټولو یو ډول لحد وی هغه که شاه دی یا ګدا**

**په رښتیا هم تر مځکی لوړ او تر مځکی لاندی یوه او بله دنیا ده ، خو واټن یې فقط یو نیم متر دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۷) ذهني زوال**

**د احسان او ښېګڼې په کولو سره ټوله چُپ وی . خو که دې کومه غلطي وکړه نو حتی ګونګی هم پر خبرو راځي**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۶۸) عجیبه دوولس**

**دا هم د ( ۱۲ ) په باره کی لنډ او جالب معلومات**

**ورځ ۱۲ ساعته ده ؛ شپه ۱۲ ساعته ده ؛ کال ۱۲ میاشتی دی ؛ سبحانه و تعالی ۱۲ حروفه دی ؛**

**القرآن المجید ۱۲ حروفه دی ؛ لا اله الا الله ۱۲ حروفه دی ؛ محمد رسول الله ۱۲ حروفه دی ؛ ابوبکر الصدیق ۱۲ حروفه دی ؛ عمر ابن الخطاب ۱۲ حروفه دی ؛ عثمان ابن عفان ۱۲ حروفه دی ؛ علی بن ابی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طالب ۱۲ حروفه دی او داسی ډیر نور . سبحان الله**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**(۱۶۹)** **د طبیب خبرتیا**

**زه په ټولو مخلوقاتو کی د غوایی څخه ډیر بیریږم . ځکه ، هغه عقل نلری خو ښکر لری**

**( ابن سینا )**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**(۱۷۰)** **کامل ایمان**

**د نوح (ع) زوی په جهنم کی ؛ د ابراهیم (ع) پلار په جهنم کی ؛ د لوط (ع) میرمن په جهنم کی ؛**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم اکا ابولهب په جهنم کی . خو د فرعون غوندی عظیم کافر میرمن آسیه په جنت کی**

**دا چی څوک د چا څه دی ، الله تعالی یي پروا نه کوی بلکی الله عزوجل یوازی د شِرک او کفر څخه پاک ایمان ته اهمیت ورکوی**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**(۱۷۱)** **د غوسي ختمَوَل**

**پیغمبر علیه السلام فرمایی : ما ته یوه داسی کلمه معلومه ده که یي غصه کونکی ووایی نو غصه به یي لیری سی . که هغه « اعوذ باالله من الشیطان الرجیم » ووایي**

**( صحیح بخاري ۶۱۱۵ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۲)	دنیاداري او بې غوري**

**موږ چې کله د یو چا واده یا ښادۍ ته ورځو نو د پیسو یو پاکټ د ځان سره اخلو او ورکوو یې . خو که مو یو دوست په روغتون کې په ناوړه روغتیایي حالت کې بستر وي ، یا هلته بې کسه پروت وي نو د پیسو پاکټ نه ور وړو ( بلکې احیاناً میوه یا ګېډۍ ور وړو ) ، حال دا چې هغه او کورنۍ به یې پیسو ته سخت اړ وي**

**عجیبه ده ، هلته دنیاداري او دلته بې غوري ! همدا دود باید پیل او عام کړو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۳)	جابران او ظالمان**

**زموږ په ټولنه کې تر ټولو بد او ظالم انسان هغه دی چې نور خلک یې له بیرې احترام کوي**

**استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۴)	له مرګه ویره**

**اصلي او واقعي مسلمان هیڅکله د مرګ له یاده نه بیریږي ،**

**دا ځکه چې مرګ حق دی او د حق منل پر هر مسلمان فرض دی . او بل دا چې یو مؤمن ځکه**

**د مرګ له یاده نه بیریږي چې اسلامي ارکان او فرایض یې پر ځای کړي وي**

**خو د دې برعکس د مرګ له یاده هغه کسان بیریږي چې اسلام یې خورا لږ او یا هیڅ نه وي**

**عملي کړی ، نو دغسې انسان د خپلو ګناهونو له امله د مرګ له یاده بیریږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۵)      د ځان جاسوس**

**احمق او کم عقل انسان ځان ته ضرر او نورو ته ګټه رسوي ، یعنی ځان په لوی لاس د بل په واک کی ورکوی . پس د ځان جاسوس دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۶)      انحرافي لورئ**

**موږ ډیرئ د افراط په غیږ ورغلي یو که هغه اختلافات دي ، که الزامات دي او که احساسات دي . نو اختلافات باید د نظریاتو سره وی نه د شخصیاتو سره ، او د هغه وضاحت په دلیل سره وکړو نه په تذلیل سره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۷)      اول ځان بیا جهان**

**که سمون او بدلون ونکړو ، نو ډوبیږو او ختمیږو . پس د غرقېدو د مخنیوي له پاره باید اول په ځان او خپل ژوند کی بدلون راوړو ، نه په نورو کی . خو موږ اول نور بدلوو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۸)      مهمه باریکي**

**یو عالم څومره مهم راز ویلی دی : عمل ( کردار او سلوک ) یوازینی هغه نیالګی دی**

**چی تخم یې « د مځکی پر مخ » او میوه یې « تر مځکی لاندی » حاصلیږی**

**سبحان الله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۷۹)      د درواغو تعفن**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : کله چي څوک درواغ وایي نو د درواغو د بد بویی څخه

یې ( د رحمت ) ملایکه یو میل لیري ځي ( ترمذي ۱۹۷۲ )

استغفرالله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۰)      مُستریح او مُستراح**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : « کله چی مومن بنده وفات سی نو د دنیا د زحمتونو څخه د مړینی په ذریعه راحت حاصلوي [ مستریح سی ] . خو فاجر انسان چی مړ سی نو د هغه له لاسه ښارونه ، ( بندګان ، ونی او حیوانات راحت سی [ مستراح سی ] . » ( صحیح بخاري ۶۵۱۲

څومره ستر حقیقت ! نن موږ عملاً ګورو چی هر نیک شخص په خپل وفات سره د دنیوي بدمرغیو او زحمتونو څخه نجات مومي خو د بدعمله ، شریر او ظالم انسان په مړینه سره اولس او مظلومان د هغه له شره بیغه سی

مګر نن ډیرئ کسان د « مړه شریر » ستاینه کوی خو « مړ مومن » غندي ، استغفرالله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۱)   متوجه اوسه**

که خپل نفس د خیر په کارونو کی لګیا نکړې ، نو هغه به دې ضرور د شر په کارونو کی بوخت کړی

( اشفاق احمد )

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۸۲)   نا امني**

**تر ټولو بد وطن هغه دی چی وطنوال يې په امن کی نه وی ( حضرت علي رضي عنه )**

**نو يا لويه خدايه ! بد ترين وطن مو بهترين وطن کړه ، آمين**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۳)   له غمه بې غمۍ**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم چي به کله د يو غم يا مصيبت سره مخامخ سو نو نفل لمونځ به يې کاوه .**

**(رواه احمد او ابو داود)**

**نو راځی چی موږ هم دغم غلطولو دغه بهترينه طريقه خپله کړو**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۴)   ترخه حقايق**

**که يو چا د بل په صداقت کی شک کاوه نو دا درواغجن دی ، که نه صادق دی ؛**

**که يو چا په مجلس کی په هره موضوع کی ځان هرکاره او پوه باله نو جاهل دی ، که نه عالم دی ؛**

**که يو چا پر بل ډيره بد ګوماني کوله نو په زړه تور دی ، که نه په زړه پاک دی**

**همدا زموږ د ټولنی يو څو ترخه حقايق دي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۵)   د زړه داډ او سکون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیغمبر علیه السلام فرمایی : هر وخت چي دې اراده وکړه چي د یو چا عیب بیان کړې ، نو خپل عیبونه در په یاد کړه**

**( صحیح بخاري )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۶)   د علم انفلاق**

**د یو عارف څخه یې وپوښتل چی علم کله ماتیږی او کمیږی ؟**

**ول کله چی ملنګ یا درویش فقر وکړی ، شاعر غرض او مرض ولری ، ملا تاجر او کاروباري سی ، پوه او عالم د دنیا شوقي سی نو دا هغه وخت دی چی علم به تجزیه کیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۷)   عظیم نعمتونه**

**د بدن هر غړی ستر نعمت دی . مثلاً زړه یو اتومات ماشین دی چی نه چارجېدل غواړی نه تیل غواړی ، نه موبلایل غواړي ، نه برق او نه ګاز غواړی چی په وچلیږی . زړه هره ورځ یو لک ، درې زره او شپږ سوه اتیا ( ۱۰۳۶۸۰ ) واره غورځی او ضربان کوی**

**همدا رنګه سترګی ، پزه ، غوږونه ، ژبه ، سږي ، پښتورګي ، معده ، کولمي ، اینه ، تورئ او هر غړی مدنظر ونیسه چی څومره ستر نعمتونه دي . دا تول وړیا دي ، پخپله کار او خدمت کوی**

**!فَبِأَيِّ آلاء رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۸)   ستر احسان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که یو چا ته داسی جمله ووایې یا داسی خبره وکړې چی له امله یې هغه شخص الله تعالی ته یو څه ورنږدې سي او بدې یې یو څه لږ سی ، نو په نن عصر کی دا یوه ستره نیکي ده چی د هر چا نه په نصیب کیږی**

**څومره آسانه ! بس یوه پاکه اراده غواړی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۸۹)     شا گرځ**

**کله چی دې گناه ته زړه وسی نو دا د دې دلیل دی چی الله تعالی درڅخه ناراضه سوی دی . نو ژر « یُوو ټرن » وکړه یعنی بیرته راوگرځه**

**اخ ، د ژوند خاطرې**

**کله کله د هغو ورځو په باره کی خاندو چی ژړل به مو .**

**خو کله کله بیا د هغو ورځو په باره کی ژاړو چی خندل به مو**

**( هاروکی موراکومی )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۰)     دا ولی ؟**

**دا ولی ډېر خاندو مگر لږ خوشحاله یو ؟**

**خورا ډېر درواغ وایو خو بیخي لږ نتیجه اخلو ؛**

**بل ته لاره ښیو خو پخپله بې لاري یو ؛**

**جنگ ډیر بد گڼو خو سوله په جنگ راولو ؛**

**غیبت مو عادت کړی ، عبادت مو بدعت کړی دئ**

**ځواب یې الذاریات ۵۶ او طه ۱۲۴ راته وایی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۱) د معاشرت له آدابو څخه**

**د یو کور پر دروازه داسی ښکلي جمله لیکلي وه : دا چی زنګ دې ووهه ، لږ صبر خو وکړه . دننه ناست انسان راروانیږی نه دا چی را الوزی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۲) عجیبه ده ؟**

**زموږ پر خپل بدن ماران او لړمان ځوړند دي خو پروا نه کوی ، مګر د بل له بدنه د مچ او غوماشی د شړلو په فکر کی یو ( خپل لوی عیب هیڅ خو د بل کوچنی عیب هر څه . ) استغفرالله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۳) پخه او کره وینا**

**انګریزی متل دی چی وایی هغه څه وکړه چی صحیح ( حقیقت ) وی او هغه څه مه کوه چی آسانه وی ، یعنی**

**Do what is right, not what is easy**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۴) الهي رحمت**

**د ابن سینا څخه یي وپوښتل چی ژوند څنګه دربانډی تیریږی ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ده ورته وویل چی د ګناه کاری سره سره د الله تعالی دومره نعمتونه راباندی اوري چی نه پوهیږم د الله تعالی شکر د څه له رویه ادا کړم ، آیا د نعمتونو پر ډیروالي یې او که د ګناهونو پر تیروالي یې ؟**

**سبحان الله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۵)** **یو عالم څه بنه ویلی دي**

**زما په لیکلې خبره هر څوک نه پوهیږی . دا ځکه چی زه احساس لیکم خو هغوی الفاظ لولی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۶)** **نوې بت پرستي**

**ځانپالنه ( یا شخص پالنه ) تر بت پرستی هم خطرناکه ده . ځکه ، بت دماغ نلري چی خراب سی ( او ظلم وکړی ) . خو کله چی د انسان عبادت وکړې ( یعنی د ظالم امر په پټو سترګو او بېله روا دلیله عملی کړې ) ، نو هغه به ضرور فرعون سي . دا هغه تریخ حقیقت دی چی روزمره یې وینو که هر جنګسالار او توپک سالار هم دی**

**د دې بت پرستی سبب پیسه یا عُقده یا عقیده ده . دا نوې بت پرستي ډیره خطرناکه ده**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۱۹۷)** **د برکت لرینت**

**پخوا به ساعت د یو یو چا سره و ، خو وخت به د ټولو سره وو ؛ نن برعکس ساعت د ټولو سره سته خو وخت د هیچا سره نسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(۱۹۸) الهي سزا

د هغه انسان د خاموشی یا پټي خولې څخه وبیریږه چی تا یې زړه آزار کړی دی خو هغه هیڅ نه وایی یا هیڅ نسي کولای مګر هر څه الله تعالی ته پریږدي . نو خبردار اوسه چی الله تعالی یې هم ژر یا وروسته بدله درڅخه اخلی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(۱۹۹) د اضدادو مقابله

مصیبت د لوړ څخه راځی او دعا د کښته څخه ورځي . کوم یو چی پیاوړی وی ، هغه یې ګټی

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(۲۰۰) ننني دوستان

که یو چا ته اضافه له هغه ارزښت ورکوې چی ورته « لازم » وی ، نو ځان ته اضافه له هغه تاوان رسوې چی درته « لازم » وی ! دا چی بوغۍ ( فوقانه ـ غباره ) دربانډی چاودي مه خښمیږه . پخپله دې تر حد زیاته هوا ورکړې وه

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(۲۰۱) د ضمیر صیقل

حقیقت او صداقت یوازینۍ هغه سِکه ده چی د دنیا په هر مکان او دکان کی ډیر ارزښت او چلښت لری .

امتحان یې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۲)    پر ښو تلوار پر بدو تأمل**

**د نن کار سبا ته مه پریږده . متوجه اوسه چی کله کله نه « بل ځل » راځی ، نه « وقفه » راځی ، نه « بل وخت » راځی او نه هم « بیا » راځی . نو له همدې موقع او فرصت څخه ګټه واخله داسی نه چی ناوخته سی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۳)    د حلال برکت**

**مالک بن دینار (رح) فرمایلی دي : که څوک تر یوه حرام دینار تیر سی نو دا هغه لره تر یو لک دینارو صدقه کولو هم ښه دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۴)    رښتیا او درواغ**

**رښتیا حق دی او درواغ ناحق دی . رښتیا د انسان تر پیدایښت پخوا لا موجود وو ، خو درواغ موجود نه وو . یعنی حقیقت طبیعی دی خو درواغ مصنوعي دی**

**پس ویلی سو چی حقیقت شتون لری خو درواغ اختراع کیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۵)    زما ځواب**

**پرون یو دوست پسله ډیر وخته ولیدلم او راته وې ویل چی دا څومره زوړ سوی یې . ما ورته وویل چی زه ځکه د دې « الهي نعمت » څخه شکایت نه کوم چی ډیر خلک ترې محروم سوي دي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۲۰۶) نا آرامه انسان**

**انسان کالي بدلوي ، کور بدلوي ، دفتر بدلوي ، دکان بدلوي ، موټر بدلوي ، لوازم او سامان بدلوي ، دوستان بدلوي ، حتی اړيکی او خپلوی بدلوي خو بيا هم پريشانه او نا آرامه وی . دا ولی ؟**

**ځکه چی خپل خوی او عادت نه بدلوي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۷) اصلی او دايمی سکون**

**ما ورځخه وپوښتل چی سکون چيری دی ؟ هغه کرار په لاس کی قرآنکريم راکړ او راته ويې ويل چی دغه دی**

**سبحان الله**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۸) باطني سمون**

**که هګۍ له دباندی څخه ماته سی نو ژوند يې ختميږی خو که له دننه څخه ماته سی ژوند يې پيليږی . نو مثبت او رغنده بدلون تل له دننه څخه وی . راځی چی موږ هم خپل باطن اصلاح کړو . ځکه چی رغنده کار تل له دننه راپيليږی او دباندی بشپړيږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۰۹) تعمق**

**پوهول او پوهيدل ډير فرق لری او دواړه ډير مشکل**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۲۱۰) لا تر کله ؟

همدا اوس دې پر تېر عمر او ګناهونو د الله تعالی څخه مغفرت وغواړه . د توبې په سپیڅلو اوبو ځان ومینځه

ملاقات نږدې دی او هره شیبه امکان لري چی الله تعالی دې خپل حضور ته وغواړي . نو ښه نه ده چی په خیرنه او دوړنه څېره یې په وړاندې ودرېږې . که ته وغواړې یا نه ، که دې خوښه وی یا نه ، دا لحظه او دا صحنه حتماً دربان‌دی راځی .

اوس هم وختی دی . ساه لا چلیږی . پلمې بندی کړه . نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۱۱) شتمن فقیر

کله چی ته وصیت پانه لیکې ( یا شفاهي وصیت کوې ) ، آیا خبر یې چی یوازینی څوک چی ستا د مال او دولت !یا جایداد څخه محروم پاتیږي ، هغه ته پخپله یې ؟

چا ته خپل سهم پرېږدې ؟ آیا هغه اولاد ته چی ډیر ژر به دې هیر کړی ؟ که هغه اولاد ته چی ستا د سهم یوه سلنه به هم نه درپسی خیراتوي ؟

نو اوس هم وختي دی او لا ژوندی یې ، ستا د خپل سهم زیاته برخه صدقې ته وقف کړه ، داسی نه چی ناوخته سی ! آیا پوهیږې چی صدقه خورا افضل عبادت دی ؟ نو ولی یې ضایع کوې ؟

ولی دا کار هغه اولاد ته پرېږدې چی د دنیا په کارونو کی تر غوږونو پوری ډوب دی ؟ که همداسی ونکړې نو ( یوه سه چی شتمن فقیر یې ( یعنی دلته شتمن او هلته فقیر

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۱۲) زموږ د ټولنی دوه ترخه حقایق

ځینی کسان هر څه لری بېله لیاقته ، خو ځینی بیا هیڅ نلري بېله لیاقته

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۳)　سید جمال الدین افغاني څومره کره او پخه خبره کړې ده**

**غریب او مسکین عالم په خپله پوهه سره غني دی ، خو جاهل غني د خپلي ناپوهۍ له امله غریب او مسکین دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۴)　ځان خوځول**

**د نن کار سبا ته مه پرېږده او ځان ته حرکت ورکړه**

**آیا د کامیابی او ناکامی دغه باریکي ته مو پام دی ؟**

**د بریالیو انسانانو له پاره په اوونۍ کی اووه « نن » موجود دي ،**

**«خو د ناکامو انسانانو له پاره بیا اووه « سبا**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۵)　له دوبیدو ډډه وکړه**

**ځان خوشحاله ساته . ځکه په تشویش یا پریشانی سره د پرون مشکل قطعاً نه حلیږی بلکی د نن سکون هم له منځه ځي او د یو مبهم سبا په غیږ ورځي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۲۱۶)  د خلکو امتحانول**

**که د چا صبر او حوصله ازمايې نو انتقاد پر وکړه ، بيا وګوره**

**که د چا اخلاص ازمايې نو مشوره ځنې وغواړه ، بيا وګوره**

**که د چا غرور او ځانپالنه ازمايې نو خبره يې ومنه ، بيا وګوره**

**که د چا خوی او خصلت ازمايې نو سفر ورسره وکړه ، بيا وګوره**

**او که د چا سخاوت ازمايې نو پور ترې وغواړه ، بيا وګوره**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۷)  ابن تيميه ( رحمه الله ) ويلی دي**

**هغه عالم دی هلاک سي چی د جاهل د پوهولو ښخه ډېره کوي او هغه جاهل دی هم هلاک سی چی د عالم له خولی حق نه قبلوي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۸)  له فتنو او جنجالو ځان ساتنه**

**آيا د چُپ والي يا خاموشی اهميت درمعلوم دی ؟**

**خاموشي ستر نعمت دی په تيره کله چی : اختلافات ډير وی ، آوازونه لوړ وی ، شخړی لاينحله وی ، علم لږ وی ، او دليل بې وسه او بې کسه وی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۱۹)  انسان ثابت حالت نلری**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**داستایوفسکی څه ښه ویلی دي : هر پرهیزګار یوه سابقه لری او هر ګناه کار یوه آینده لری . نو ژر قضاوت مه کوه**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**(۲۲۰)** **د غیبت او حسد پیوستون**

**علما وایی چی انسانان په درې دلیلونو سره تر شا خبری درپسی کوی یا ستا غیبت کوی**

**لومړی ـ کله چی ونسي کړای ستا دریځ ته ورسیږی یا ستا حالت ولری ، نو تر شا خبری درپسی کوی**

**. دوهم ـ کله چی هغه څه ونلري چی ته یې لرې ، نو دې غیبت او پس ګویي کوي**

**دریيم ـ کله چی وغواړي ستا په رقم ژوند غوره کړی یعنی ستا تقلید وکړی خو نه یي سي کولای ، نو غیبت او تر شا خبری درپسی کوی**

**دې ته د غیبت او حسد پیوستون وایی . راځی چی اوس نو د همدې فارمول پر اساس خپلو ځانو ،**

**خپلو دوستانو او خپلو مجلسیانو ته وګورو او هر یو جلا جلا و ارزوو . ښایی هیڅوک یا خورا لږ**

**څنی خلاص وی**

**لا بیا هم نه ترې منع کیږو ؟ استغفرالله**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**(۲۲۱)** **بل مه ترټه**

**زموږ د ناکامی اسباب تل زموږ په دننه کی وی خو موږ یي د بل په وجود کی لټوو او هر بد پر نورو تاوانوو.**

**همدا مو یوه لویه تولنیزه ستونزه ده**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۲۲۲) ټولنيز انحراف

دا څومره تهمتونه او لفظي ګوزارونه روان دي . خو تريخ حقيقت دا دی چی موږ دومره کوښښ او هلی ځلی د ځان د سمون او بدلون له پاره نه کوو څومره چی تر ځان د نورو د غلط ثابتولو له پاره يې کوو

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۲۳) رازداره اوسه

يو څوک چی تا ته خپل راز وايی ، خپل عزت او امانت در سپاري . نو خيانت مه پکښی کوه

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۲۴) کثيف او نجس عمل

يو ځل خو سترګی پټی کړه او داسی فکر وکړه چی د مړه انسان سرې او تازه غوښی ژويې او په خوله کی يې اړوې را اړوې . تر شونډانو دې د دې غوښو وينی څڅيږی ، او د سرو غوښو ټوټې دې په غاښونو کی يو څه هم بندی وی

دا مهال به دې سترګی څومره سرې وی ، زړه به دې څومره ډېره وی ، څيره به دې څومره وحشی وی او حالت به دې څومره شهواني وی . دا به څنګه نجس او ناولی عمل وی ، ها ؟

آيا دغسی کرغيړنه صحنه دې خوښه ده ؟ که ځواب مثبت وی نو ښه ډېر غيبت کوه

که نه ، اوس هم وختي دی او قسم واخله چی نور به غيبت نه کوم . د غيبت اورېدل هم په غيبت کی شامل دی ، منع يې کړه يا ترې روان سه . دا به نو د ځان ، کورنی او ټولنی سره ستا نيکي وی . ولی دغسی وړيا احسان او نيکي نه کوې ؟

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۲۲۵)    ودرېږه او وګوره**

**لا تر څو به زمانه ترټې ؟ دا يې حل لاره نه ده . متل دی چی له مردارو اوبو خپل کالي راټول کړه**

**د زماني څخه شکايتونه مه کوه . بلکی خپل ځان بدل کړه چی الله دې روان حالت بدل کړی**

**( الرعد ۱۱ )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۲۶)    خورا ستر او خورا کوچنی**

**يو عالم ويلی دي :**

**تر ټولو ستر امتحان اخيستونکی الله جل جلاله  دی او تر ټولو کوچنی امتحان ورکونکی**

**د الله جل جلاله بنده دی**

**خو موږ لا بيا هم ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۲۷)    اول د ځان سمون**

**يو عالم څه ښه ويلی دي : يواځينی څوک چي ته بايد تر هغه ښه او غوره سې ، هغه د پرون ورځې ته خپله يې**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۲۸)    د ځوانانو مسؤليت**

**دا صحيح ده چی ځوانان د روان بد حالت مسؤليت نلری ، ځکه په همدې بدو حالاتو کی زوکړېدلي او لوی سوي دي . مګر د همدې حالاتو د سمون او د فکرونو د تسکين مسؤليت لری**

(c) ketabton.com: The Digital Library

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۲۹)     په ګرېوان کی وګوره**

**کافر چې ووینې نو د اسلام پر نعمت د الله حمد او ثنا ووایه ؛**

**فاجر او ګناه کار چې ووینې نو پر تقوا باندی د الله حمد او ثنا ووایه ؛**

**جاهل چې ووینې نو د علم له امله د الله حمد او ثنا ووایه ؛**

**ناروغ او مبتلا چې ووینې نو د عافیت له امله د الله حمد او ثنا ووایه**

**په ګریوان کی وګوره ! ړوند د دنیا د لیدلو ، کوڼ د اوریدلو ، ګوډ د یو ګام اخیستلو او ګونګی د یوې خبری کولو ارمانجن دی**

**خو ته لیدلای سې ، اوریدلای سې ، تللی سې او ږغیدلای سې**

**لا د الله شکر نه ادا کوې او نور اضافي او تجملي شیان هم غواړې ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۳۰)     غرضي دنیا**

**د ژوند تر ټولو ستره اشتباه می دا وه چی فکر می کاوه که په چا غرض ونکړم نو هغوی به می پر آرامه پرېږدي**

**( وودي آلن )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۳۱)   ځان ارزَونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شيخ الاسلام ابن تيميه (رح) څه ښه فرمايلی دي : « مومن په حق خبره راضي وی که يې په ګټه وی که يې په زيان ؛ خو باطله خبره يې ناخوښه وی که يې په ګټه وی که يې په زيان ! »**

**خو موږ ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۳۲) الهي تړاو او دعا

**دا څومره ښه احساس دی چی کله د الله تعالی سره د خپل زړه خبره کوو نو هغه له مخکی څخه لا ښه پرې خبر وی خو بيا يې هم زموږ څخه ويل غواړی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۳۳) ننني انسانان

**د يو حکيم څخه يې وپوښتل چی دا آسمان ولی داسی شين او صاف دی ؟**

**هغه ورته وويل دا ځکه چی انسانان هلته نسته**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۳۴) انسي شيطان

**د نورو هغه عيبونه مه څرګندوه چی الله تعالی په پرده کی پټ ساتلی دي . يعنی د الله تعالی په اراده او فيصله کی مداخله مه کوه او له ځانه انسي شيطان مه جوړوه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۳۵) نابللی ميلمه

**دا داسی بې پروا ميلمه دی چی د سهار او ماښام خيال نه ساتي . د ننوتو په نيت د کور دروازه هم نه ټکوي او هيڅ ديوال يې مخ نسي راګرځولای . مال او دولت يې هم مخه نه سي نيولای . نه رشوت اخلي او نه واسطه پيژني . دا ډير بې لحاظه ميلمه دی چی د هيچا پروا نه کوی که هغه بوډا وی ، که ماشوم وی ، که جوړ وی او که ناجوړ**

**هو ، دا نابللی ميلمه « مرګ » دی چی نابېره راځي او هر څه لوټوي . نو چمتو اوسه او توښه برابره کړه داسی نه چی ناوخته سی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

## (۲۳۶) خبرتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا چې په ځوانۍ کې مستي او په پیرۍ کې سُستي وی ، نو د الله عبادت به کله کوې؟**

**( خواجه عبدالله انصاری )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۳۷)  آسانه او ارزانه ثواب**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چې الله تعالی څلور کلمې تر ټولو ډیرې خوښوي**

**. سبحان الله ؛ الحمدلله ؛ لا اله الا الله ؛ الله اکبر**

**له دغو څخه چې هره یوه مخکې یا وروسته وایې فرق نه کوی**

**( صحیح مسلم : حدیث نمبر ۵۷۲۴)**

**نو راځې چې لږ تر لږه خو د الله تعالی دا یوه خوښې پر ځای کړو چې ډیره آسانه ده . هر ځای او په هر حالت کې یې ویلای سو ( که په موټر کې یو ، که پلی یو ، که په کار کې یو ، که ناست یو ) .**

**بس یوه پاکه اراده او فیصله غواړی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۳۸)  د دعا عظمت**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی : عمر نه زیاتیږی مګر په نیکۍ سره ، تقدیر نه بدلیږی مګر په دعا سره**

**( ابن ماجه ۴۰۲۲)**

**او دځان په شمول هر چا ته دعا کوه . څه معلومه ده که د یو چا قسمت ستا دعا ته معطله و؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۳۹)  سابقه په آینده سره ومینځه**

**دا چې بد یې درسرکړي دي هغه « پرون » و ؛ که یې وبخښې دا « نن » دی ؛ خو چې اجر یې اخلې هغه « سبا » دی . مهاتما ګاندي په دې ارتباط وایی**

**د هغه چا بخښل چې بد یې درسره کړي دي ، د ماضي بدلون نه دی بلکې د راتلونکې بدلون دی**

**څومره ښه**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۲۴۰)   مجازات او مکافات**

**تر یوې ګناه وروسته د بلې ګناه کول اصلاً د هغې سزا ده ؛**

**تر یوې نیکۍ وروسته د بلې نیکۍ کول اصلاً د هغې اجر دی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۱)   د وجدان محکمه**

**د وجدان محکمې ته هرومرو مراجعه وکړه . ځکه چې هلته قطعاً غلطه فیصله نه کیږی**

**هلته نه حاضرین سته ، نه مراجعین ؛ نه شاهدان سته او نه مدافع وکیلان !**

**بلکی صرف « دوه محرران » او یو « ستر قاضی » سته او بس**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۲)   پر نفاق اتحاد**

**په دې ټولنه کی څلور کسان هغه وخت متحد کیږی چی د پنځم جنازه یې اخیستې وی**

**( اشفاق احمد )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۳)   لویی او ځانپالنه**

**خواجه نظام الدین اولیا څه ښه ویلی دي**

**اې مسلمانه ! هر مسلمان چی ووینې تر ځان یې ښه وبوله که څه هم ته اطاعت کونکی یې او هغه ګناه کار وی . کیدای سی دا ستا وروستی اطاعت او نیکي وی خو د هغه وروستی ګناه وی ، چی له امله به یې ته ګناه کار سې او هغه نیکوکار**

**هو ، ځان تر نورو ښه بلل ( په علم ، ظاهري عزت ، مؤقتي مقام ، قوم ، رتبه او نورو کی ) هغه ګناه ده چی د نعمتونو د هلاکت سبب کیږی**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۴)   د خیرات قبولیت**

**فقیر د ځان سره خورا ستر « راز » ګرځوي : په ظاهر یې درڅخه غواړي خو په حقیقت کی یې درکوي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۲۴۵)　الهي احسان او نعمت**

**که ستا ژبه کلمه وايی ، په دې کی نه ستا او نه ستا د ژبي کمال دی ، بلکی کمال د هغه ذات دی چي ستا ژبي ته يي د کلمې ويلو ، ذکر او تسبيح ويلو توفيق ورکړی دی ( که نه ، ژبه خو ګونګی او ليونی هم لري )**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۶)　محتاط اوسه**

**نن د تهمتونو او ترټنو بازار عجيب تود دی . نو د چا سره منازعه او مناقشه مه کوه ، ځکه عاقل دی ملامتوي او بېعقل دی آزاروي**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۷)　د ګناه شاهدان**

**ته په پټه او يوازيتوب کی ګناه کوه . مګر لږ تر لږه څلور عيني شاهدان لرې چی هغه زړه ، سترګي ، غوږونه او لاسونه دي**

**الله تعالی فرمايی چی په دغه ورځ به د دوی ( يعنی ګناه کارانو ) خولې بندي ( يعنی مُهر ) کړو نو د هغوی لاسونه به خبری وکړی او پښې به يي شاهدي ادا کړی چی په دنيا کی يي څه کول ( يس : ۶۵)**

**نو هغوی چی په ښکاره ګناه کوی ، څومره شاهدان به يې وی ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۸)　لنډ سفر**

**ژوند يو داسی سفر دی چی پيل يي د الله څخه دی او پای يې و الله جل جلاله لره دی .**

**يعنی ژوند يو لنډ سفر دی د الله جل جلاله څخه تر الله جل جلاله پوری**

**خو موږ؟**

=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=

**(۲۴۹)　عبادت د بل له پاره**

**د يو عالم څخه چا پوښتنه وکړه چی يوه ښځه ډير زيات عبادت کوي ، د ورځي يې روژه وی او د شپې لمونځونه او تلاوت کوي ، خو له بده مرغه چی غيبت هم ډير کوي . د دې ښځی حالت څنګه بولې ؟**

**عالم ورته وويل : دا ټول عبادتونه د نورو له پاره کوي . ځکه ، خپل نيک اعمال يي هغه چا ته ځي چی غيبت يې کوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هو ، د دغسی مسلمانانو نیک اعمال د غیبت په واسطه داسی خوړل کیږی لکه وَینه ( موریانه ) چی لرگی خوری . زموږ ټولنه متأسفانه په دغسی معتادانو ډکه ده . نو د هغوی له پاره اوس هم ناوخته نه دی**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**((۲۵۰    غیبت یا قناعت ؟**

**ستر مشکلات به هغه مهال ختم سی که موږ یو په بل پسی د خبرو کولو پر ځای یو د بل سره خبری وکړو**

**=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=--=**

**د لومړي کتاب پای**

**نور په دوهم ټوک کښي ..........**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**